ادع الى سبيل ربك بالحكمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتي هي احسن | الآية

دعوت

دافغانستان د جماعة الدعوة الى القرآن والسنة دافکارو خپرونکی

د توحید او جهاد مجله

۳۲/۳۱

د کابل کربلا د جهاد او قیام په درشل کې.

د کابل د تازه حالاتو راپور

د کابل ښکلی ښار

چه اوس په کنډوالو بدل شو.

تنظیمی تعصبات دمسلمان امت لپاره خیر نه بلکه شر دی

«شیخ سمیع الله»

الهی فرمان

بسم الله الرحمن الرحیم

«ولاتکونوا کالذین تفرقوا واختلفوا من بعد ما جآءهم البینات و أولئك لهم عذابٌ عظیم»*

(آل عمران-۱۰۵)

ترجمه: یعني؛ ومباشید مانند کسانیکه پراگنده شدند و اختلاف کردند با یکدیگر پس از انکه امد به ایشان احکام واضح و ان گروه مرایشانراست عذاب بزرگ.

بسم الله الرحمن الرحيم

«قل هذه سبيلي ادعو إلى الله على بصيرة أنا ومن اتبعني وسبحان الله وما أنا من المشركين»
سورة يوسف (۱۰۸)

دعوت

د توحيد او جهاد مجله

دامتياز خاوند: دافغانستان جماعة الدعوة الى القرآن والسنة
مؤسس: شهيدشيخ جميل الرحمن (رحمه الله)
سرپرست: الشيخ سميع الله
خپرونکی اداره: ددعوت او ارشاد رياست

شپږم کال پرله پسي گنه (۳۱-۳۲) ۱٤۱٤ هـ ق د رجب اوشعبا ن مياشتي (۹-۱۰/۱۳۷۲ هـ ش)

دهيئت تحرير تر نظارت لاندي

ددی گنی مطالب

عنوان	مخ
* د افغانستان په اسلامي دولت کي (سرمقاله)	۲
* د کابل کربلا د جهاد اوقيام	٦
* تنظيمي تعصبات د مسلمان امت لپاره خير نهٔ	۹
* د کونړونو اسلامي امارت	۱۲
* تعصب او مخالفت يواځي د اسلامي دعوت	۲۷
* حاجي غلام صادق د متحده شورا	۳۰
* د کونړ شمله (شعر)	۳۲
* الهي دعوت (شعر)	۳۳
* انتظار (شعر)	۳٤
* د تکاب جنگ	۳٥
* ددين مفهوم	۳۷
* د پي – ايل – او	٤۰
* د نبوي ملغلرو امیل	٤٥
* په اسد آباد کي د محمديه ليسي	٤۷
* د ليکونو بهير	٤۹

په پاکستان کی د
گډون بيه:
مياشتني: ۱۰ کلداری
کلنی: ۱۰۰ کلداری

په نورو بهرنيو هيوادونوکی د
گډون بيه:
مياشتنی: ۲ امريکائی ډالر
کلنی: ۱۰ امريکائی ډالر

په داخل او په پاکستان کی زمونږ
نمايندگان

په داخل کی: لعل محمد «افسوس»
اسلام آباد: عفيف احمد
پيښور: غنی الله «مسلم»
لاهور: حماد شاکر
کراچی: چوهدری ظهور احمد
کوئټه: عرفان منگل
مظفر آباد: بشير قريشی

په نورو بهرنيو هيوادونوکی زمونږ
نمايندگان

سعودی عرب: فيضان الله
امريکا: عبدالرحمن احمد
بريطانيا: منور علی
جرمنی: وائی – ايم حميم
هالينډ: عماد الدين بکری اسماعيل

مکاتباتی پته: «دعوت مجله» – پوست بکس نمبر ٦۱٤ پشاور پاکستان

بانکی حساب: جماعة الدعوة الی القرآن والسنة – اکاونټ نمبر ۱۹٤٦٥ – حبيب بينك كينټ صدر روډ – پشاور.

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

د افغانستان په اسلامي دولت کې د کونړونو د اسلامي امارت د پیوستون په اړه

د افغانستان اسلامي خاوره چه د آسیا په زړه کې واقع ده په نني عصر کې د کفر ځپونکې او باطل محوه کوونکې اسلامي قوت حیثیت لري. ددې اسلامي خاورې مؤمن او مجاهد زلمیان د اسلام د مقدس دین د لوړتیا او د قرآن او سنت د حاکمیت په خاطر پرله پسې څوارلس کاله د نړۍ دداسې استعماري طاقت په مقابل کې جنګیدلي او داسې شیطاني قوت ئې له پښو غورځولي چه ځان ئې شکست ناپذیر او د کمونیزم او الحاد باطله نظریه ئې په شا نه، تلونکې ګڼله.

افغان مؤمن ولس د خپل مقدس جهاد او حقې مبارزې په خونړیو ډګرونو کې د الله تعالي په فضل او نصرت، روسي استعمار ته ماته ورکړه او په نړیواله سطحه ئې له رسوا کولو او شرمولو نه وروسته په داسې حال کې د افغانستان له اسلامي خاورې څخه وشاړه چه د لړې مودې په تیریدو سره ئې د وارسا د شیطاني او استعماري پکت د کفري اتحاد ځنځیرونه وشلول د "لور" او "څټک" کمونستي نشان دړې وړې شو او د کمونیزم او الحاد د سرد مدار لنین علیه العنة د بت په پښه کې پرې وغورزول شو او له کرملین څخه وشړل شو.

کونړ په افغانستان کې د اسلامي جهاد د آغاز د نقطې او لومړني سنګر په حیث هغه سیمه وه چه د قرآن او سنت د نشاة ثانیه دعلمبردار امام الجهاد، سترمجاهد او مدبر لارښود شهید شیخ جمیل الرّحمٰن (رحمه الله) په لارښوونه ئې د کفر او الحاد په خلاف د جهاد د جګړې د لومړني میدان حیثیت وګاټه اوددې سیمې نومیالیو مجاهدینو له ټولو نه لومړې د کمونستي رژیم په خلاف مسلحانه مبارزه پیل کړه.

د خونړې جهاد په اوږد جریان کې که یو طرفته په دې سیمه کې بې ګناه مسلمانان د کمونیستو خلقي او پرچمي جلادانو په لاس په دسته جمعي ډول قتل شول، کورونه په کنډوالو بدل شول، د خلکو په کروندو کې د غلودانو په څاې روسي بمونه او کیمیاوي زهر لرونکې مواد وکرل شول، جوماتونه، مدرسې او علمي او فرهنګي مرکزونه په روسي بمونو وران او ویجاړ شول او د کونړ ښکلو او سرسبزو درو د داسې بیدیاؤ شکل غوره کړ چه هر خوا پکې د کونډو او یتیمانو زړه بوګنوونکې زګیروې او فریادونه اوریدل

کیدل، خو بل طرف ته ددي مجاهد پروري سیمی کانی او بوټي د روسی بی غیرته سپاهیانو په وینو ولړل شول او د تعرض او ښکیلاك په نیت د راغلو سرو فوځیانو پښی بوندی شوی او په نتیجه کی د کنړ ټوله سیمه د روسانو او د هغوی د بی غیرتو خلقي او پرچمي لاس پوڅو څخه پاکه او د الحاد او کفر نظام ته خاتمه ورکړی شوه او د لومړی ځل لپار دټولو جهادی قوتونو په ګډه او متفقه پریکړه د اسلامی امارت بنسټ ټینګ شو او په افغانستان کی د مقدس جهاد علمبردار شهید شیخ جمیل الرحمن د آزادو انتخاباتو په نتیجه کی دټولو جهادی ځواکونو د ګډی شوریٰ له خوا د اسلامي امارت د امیر په حیث وټاکل شو.

څومره چه ددی سیمی مسلمانانو د جهاد د بریالیتوب او د روسي لښکرو د شکست لپاره په میړانه جهاد کړي ؤ، هغومره ئی د روسانو تر ماتی وروسته د اسلامي امارت د قیام او د اسلامي نظم د استقرار لپاره کوښښونه پیل کړل، شخصی او پخوانی تربګنې ئی شاته و غورځولی، ګوندی او تنظیمي ګټی یی پریښودی او په صمیمانه ډول ئی د اسلامي امارت ملاتړ وکړ.

په کونړ کی اسلامي امارت له خپل تأسیس سره سم د ټولو اسلامي احکامو د انفاذ اعلان وکړ او د قرآن او سنت لوری ته دعوت عام شو او د الله تعالی دا فرموده په عمل کی ریښتیا شوه چه فرمائی: «کله چه مونږ مؤمنانو ته د ځمکی د یوی برخي اقتدار او حکومت وسپارو نو هغوی پکی د قیام الصلاة، ایتاء الزکاة او امر بالمعروف او نهي عن المنکر فریضه په ښه شان سرته رسوی».

د اسلامي امارت د تشکیل نه وروسته ځینو کسانو پدی پلمه چه ټول افغانستان د خلقیانو څخه ندی آزاد شوی، نو یوازی په کنړ کي د اسلامي امارت تشکیل د جهاد هدف نه شی پوره کولی، ددی اسلامي امارت له ملاتړ نه لاس واخیست او ځینو محافلو دا ډنډوری و غږولی چه د اسلامي امارت تشکیل ګواکی د افغانستان د تجزیه کیدو اراده تمثیلوی.خو د افغانستان جیدو علماؤ د اسلامي امارت د مخالفینو دغه اعتراضات په قناعت بخښونکو دلایلو رد کړل او څرګنده ئی کړه چه د اسلامي شریعت نفاذ که څه هم په یوه کوچنی سیمه کي وی دالله تعالی په وړاندی د هغه د مؤمنو بندګانو د بندګی او د هغه پالونکی ذات د ربوبیت د حق په ځای کول دی چه دغه کار په حقیقت کی دجهاد اصلی هدف تشکیلوی. کله چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته په مدینه منوره کی د اسلامي حکومت د تشکیل توفیق ور په برخه شو نو دی ته ئی انتظار ونه کړ چه لمړی باید په ټوله جزیرة العرب کي اسلامي حکومت جوړ شی وروسته په مدینه کي هم اسلامي امارت تأسیس شي. بلکه هماغه اسلامي امارت ؤ چی وروسته ئی مقدسو وړانګو د ګرد جزیرة العرب تیارهء ګوټونه روښانه کړل.

د مخالفینو د دوهم اعتراض په مقابل کي اسلامي امارت په خپلو ټولو خپرونو او اعلامیو کي په پوره صراحت سره په خپل دي دریځ ټینګار کړی چه کنړ د افغانستان د وجود جزء لا ینفك او اسلامي امارت به په افغانستان کی د پیاوړی اسلامي وفاق په رامنځ ته کیدو سره په اسلامي دولت کی مدغم کیږی. د افغانستان جهادی تنظیمونه د اسلامي امارت ددغه معقول دریځ او حقانیت په درك کولو سره په یوه غږ او یوه اتفاق د اسلامي امارت حمایت ته راپورته شول او په کنړ کی دټولو جهادی تنظیمونو مجاهدو او نومیالیو نماینده ګانو او استاذو د اسلامي امارت امیر شهید شیخ جمیل الرحمن رحمه الله سره بیعت وکړ.

د اسلامي امارت له تأسیس نه وروسته د غلو او ډاکوانو لپاره د پناه هیڅ ګوټ پاتي نشو او لاره وهونکی د سختی نا أمیدی سره مخامخ شول، د تریاکو او مخدره موادو تجارت او کارو بار په ټپه ودرید، د کوکنارو ولار فصلونه واړول شول، شرعي حدود نافذ شول او د لمانځه په وخت کی ددکانونو د بندولو احکام صادر شول، د عام ولس د ارامي او سوکالی او د جهاد د پرمختګ لپاره نوی پلانونه طرحه شول، د منطقي امنیت په ډیر ښه شان تأمین شو، د قضاء، ښووني او روزني، امنیت، روغتیا، فرهنګی او نشراتی او تجارتي دفترونه فعال شول، د کنړونو د بیا ودانولو لپاره پراخ پروګرام پیل شو او ددغه کار لپاره نړیوالو خیریه مؤسسو ته هم بلنه ورکړی شوه تر څو د سیمی په بیا آبادی، د سړکونو او پلونو په جوړولو او دولتي تأسیساتو په بیا ودانولو کی له اسلامي امارت سره لاس امداد وکړی.

دمقدس جهاد په اوږدو کی چه یو خوا افغان مجاهد ولس د نړی د ستر شیطانی طاقت سره لاس او ګریوان ؤ او بل خوا د قبایلی تربګنیو، جاهلی رواجونو او غیر اسلامي دودونو او بدعتونو توری لړی زمونږ د ورروسته پاتی ټولنی په آسمان راخوری شوی وی او د الحادی رژیمونو استقرار زمونږ دمسلمان ولس د عقیدوی بنسټونو د تزلزل او د هغوی تر منځ د قومی، ژبنی، مذهبی او سیمه ایزو تعصباتو او بی اتفاقیو د اور لمبی لا پسی او چتی کړی وی، په آزادو سیمو کي د اسلامي ادارو تاسیس او د اسلامي حدودو انفاذ د وخت مبرم ضرورت ګڼل کیده. د جهاد شهید امام شیخ جمیل الرحمن رحمه الله د حاذق طبیب په حیث د خپلی ټولنی دردونه ډیر ښه درك کړی ؤو او پدی پوهیده چه د جګړي ځپلی هیواد د نحیف او کمزوري بدن دردونه او زخمونه یوازی او یوازی د اسلامي نظام د استقرار او د قرآن او سنت د کامل انفاذ په وسیله رغیدلی شی او بس. زمونږ شهید رهبر به په خپلو ټولو خطابو او مواعظو او له مجاهدینو سره په خصوصی او عامه محضرونو کی په خپله دی فارموله باندی ټینګار کاوه چه په هره آزاده سیمه کی باید د مجاهدینو په اتفاق او ګډه

همکاری سره اسلامي امارت جوړ شی، تر څو د افغانستان هره سیمه د یو اسلامي قوت په حیث د ملحد دښمن په وړاندی د مبارزی او جهاد سنګروی او د افغانستان د پوره آزادی په وخت کی به د ټولو آزادو سیمو جهادی منظم قوتونه د هیواد د اسلامي پوځ د مجربو قطعاتو او جزوتامونو په حیث وظیفه اجراء کړی او دپخوانی رژیم بقایاؤ ته به دا فرصت په لاس ور نشی چه په اسلامي دولت او اسلامي پوځ کی د رخنی اچولو کوشش وکړی.

که څه هم مونږ ته خپله دغه مقدسه ارزو دخپل نومیالی مشر د سر په بیه تمامه شوه، د جهاد امام او د اسلامي امارت مؤسس او د جماعة الدعوة مدبّر مشر شیخ جمیل الرحمن د یو پیاوړی اسلامي حکومت دتشکیل او په هیواد کی د قرآن او سنت دکامل حاکمیت له مقدسی ارزو سره دشهادت په سرو کالیو کی د الله تعالی در بار ته ورغی، خو د هغه شهید په لاس تاسیس شوی اسلامي امارت او شرعي اداری د خپل تکامل پړاوونه په بشپړ ډول سره ووهل او د افغانستان د بشپړی آزادی او په کابل کی د اسلامي دولتد تشکیل تر وخته بلکه تر اوسه پوری ئی په کونړ کی داسلامي نظام د کامل تطبیق او د خلکو د سوکالی او آرامی په خاطر پاخه گامونه اوچت کړی دی.

د الله تعالی در بار ته د ستایني او حمد په وړاندی کولو سره خوشحاله یو چه نن په افغانستان کی داسلامی دولت په ټینګښت سره د کونړ اسلامي امارت د افغانستان په اسلامي دولت کی مدغم اعلانوو او د اسلامي امارت ټول تشکیلات، پرسونل او وسایل د افغانستان د اسلامي دولت د کونړ ولایت په اداری پوری تړو.

د افغانستان جماعة الدعوة الی القرآن والسنة ددعوت او جهاد د نومیالی تنظیم په حیث د الله تعالی شکریه په ځای کوی چه د الله تعالی د کلمی د لوړتیا لپاره ئی دمقدس جهاد فریضه په کامل دیانت او صداقت سرته ورسوله او دقرآن اوسنت دحاکمیت لپاره یی د حقی مبارزی په خونړی ډګر کی د خپل مدبّر رهبر او زرګونو قهرمانانو مجاهدینو سرونه او تودی وینی قربان کړی او اوس چه مقدس جهاد د بریالتوب پړاؤ ته رسیدلی او اسلامی دولت په هیواد کی ټینګ شوی، زمونږ جهادی تنظیم بي له دی چه د خپل جهاد افتخارات او د سلفی کاروان دسترو مجاهدینو قرباني په دولتی څوکیو و پلوری، د افغانستان د اسلامي دولت څخه بشپړ ملاتړ اعلانوی او ژمنه کوي چه په نیکیو کی د اسلامي دولت څخه د ملاتړ سره سره به دقرآن او سنت لوري ته ددعوت د ستری فریضی دسرته رسولو لپاره شپه ورځی هلی ځلی وکړی او دغه ستره دنده به زمونږ د جهادی پروګرام راتلونکی سر خط وی.

ومن الله التوفیق

د کابل کربلا دجهاد او قیام په درشل کي

ددعوت د مجلي خبریال

دهر نوي کال په راتګ د نړۍ خلك د نوي کال د راتلو د پاره نوي نوي امیدونه او ارزوګاني لري ، خلك د ژوند او هیواد د لازیاتي ښیرازتیا او سمسورتیا پلانونه او طرحي جوړوي او د یو مطمئن ژوند او ټولني فکر کوي. د ا فکر او خیال یو بل ته د خوشحالو او مبارکیو په څیر تبادله کوي. خو په ډیر تأسف سره باید ووایو چي د افغانستان په مظلومه او جنګ ځپلي خاوره هر نوي کال لاخه چي هره نوي ورځ د تباهي او دربه دري زیري راوړي. ددي جنګ ځپلي خاوري بچیان په ځاي ددي چي یو بل ته د خوشحالو مبارکباد ورکړي، دردونو او کړاوټو کیسي وایي.

د روان کال د جدي د میاشتي په یولسمه نیټه چي د ۱۹۹٤ میلادي کال د لومړي ورځي سره سمه وه د سهار په څلورو بجو په ناڅاپي توګه د کابل د ښار مرکزي برخي د توپونو او راکټونو د دزو لاندي راغلي. هیڅوك نه پوهیدل چي کوم تنظیمونه او ډلي سره نښتي دي خو څلور ساعته وروسته خلك پوه شول چي په دي تمام عیار جنګ کي یوي خواته دولتي قواوي او بل طرف ته د جنرال دوستم ځواکونه سره په جنګ کي کیوتي دي او دا خبره هم شایع شوه چي د حزب اسلامي او حزب وحدت ځواکونه هم په دي سلسله کي لړلي دي چي د یکشنبي په شپه د کورني او بهرنیو راډیوګانو څخه اعلانونه وشول چه استاد رباني د جنرال دوستم د ډلي ټپلي او ټولو کمونستانو په ضد دجهاد اعلان وکړ او په مقابل کي اپوزسیون بیا دقیام خبره وکړه. حقیقت دادي چي دغه جنګ په همدي وجه د ټولو جنګونو څخه شدید او خونړي ؤ چي د ملك ټول وسله وال قوتونه پکي دوه پړکه شوي او د جهاد او قیام په نوم په تمام عیار باندي بدل شوي وو.

که څه هم د جنګ په اوله ورځ د کومت ضد قوتونو اعلان وکړ چي زیات بري ورته په برخه شوي دي خو وروسته ئي نیول شوي ځایونه ټینګ نکړاي شول او جګړه د خیرخاني میني د یولسمي ناحیي نه پرته نور ټول ښار ته سرایت وکړاو خبره د نظامي اهدافو د ویشتلو په ځاي عوام الناس ته ورسیده. دعامو خلکو په قتلان د کوروونو په ورانولو او حتیٰ په چورچپاول شروع وشوه او یوي کربلا ته ورته حالات ځکه مسلط شول چي یو د بل سره د مرستي لاس نه شو ورکولي او هر څوك په منده کي شول او هر چا کوشش کاوه چي یوسر او دوه غوږونه د خیرخاني نسبتاً د *ارامی* علاقي ته ورسوي.

دي منطقي ته د جنګ ځپلو قافلي راسر شوي خو د مرستي لپاره هیڅ نه وو، افغاني سري میاشتي او د سره صلیب د بین المللي خیریه موسسی دواړو کمیټو لاسونه سره یو کړل خو د شلو دیرشو خیمو نه په غیر یي نور هیڅ

له لاسه نه کيدل. په اوله ورځ د خيرخاني ټول جماتونه، مکتبونه او ټولي پناه ګاوي ډکي شوي خو د مهاجرينو سره نه بستري وي نه خواړه او نه پيسي، ځکه نو دغه جنګ ته کربلا او خونړي ويل شوي دي چه د لاندي نه راکټونو او توپونو په ورروستي ريز کي دزي کولي او دپاسه خوانه د جيت الوتکو بمباري روانه وه خو يواځي د الله تعالي مظلوم بندګان خاص طور ښځي او ماشومان وو چه د ژوندي پاتي کيدلو غورزي پرزي ئي کولي، ژړا او انګولا د انقلابونو زانګو (کابل) په سر اخستي ؤ ځکه چه د صفر نه پکي د جهاد او قيام اعلان وشو. خلکو به اعتراض کاؤه چه ښاغلي حکمتيار چه يو وخت کي ئي ددوستم مليشي په کابل کي نه پريښودي او اوس ئي ورسره ددولت پرضد په جنګ کي برخه اخستي او اتحاد ئي ورسره کړي او هغه استاد رباني چه ددوستم ځواکونه يي د اسلامي فوځ لايتجزا رکن ګاڼه او په اهمو سياسي مسائلو کي به ئي ورسره صلاح مشوره کوله اوس ئي ورسره د جهاد او نه په خولا کيدونکي حساسيت ښودلي دي.

د جنګونو سياسي انګيزه چه هر حه وي د کابل اوسيدونکي ورسره تر يوي اندازي پوري بلد او اشنا شوي او په حه دپاسه يونيم کال کي ئي دا تشخيص کړي ده چه په دي ټولو کي د اقتدار او کرسي نيولو خبره برجسته ده خو کوم معنوي او انساني تلفات چه دي جنګ واړول هغه ډير دردوونکي، خطرناك او نه جبيره کيدونکي دي.

د جدي د يولسمي نيټي نه تر درويشتمي نيټي پوري چه ددعوت مجلي خبريال په کابل کي کومه تباهي او خرابي ليدلي ده په خپل رپوټ کي ليکي چي ددي جنګ په وجه چه دهيڅ ډول نظامي اهدافو خيال ندي ساتلي شوي، په سراسري توګه په هرځاي ګولي لګيدلي او د هر چا برخه ئي پکي کړيده. د جنګ په دوران کي چه څلورويشت ساعته دوامدار وو داسي خبرونه هم خبريال ته رسيدلي دي چه د څو ورځو مړي سپو خوړلي دي، په مړو شمير ل شوي کسان دوه ورځي نهار نهور ژوندي د کندو څخه راوتلي دي ډير مړي څو ورځي په تشنابونو کي ساتلي شوي بيا په انګړونو کي بي له دي نه چه اسلامي دستوري ورباندي په ځاي شي ښخ کړي شوي دي .

په دي اطلاعاتو کي يوه دا هم ده چي د خيرخاني د لومړي برخي د حضرت بلال (رضي الله عنه) په جامع جماعت کي د زاړه ښار څخه يوي مهاجري کورني چه شل نوري کورني هم د همدي جماعت په محوطه کي ايساري وي، يوي ښځي د توپونو او راکټونو د درنو ډزو د هيبت نه په جماعت کي ولادت وکړ او د ټولو مهاجرو په حضور ئي لور وزيږوله.

د جنګ په دوران کي اکثره زخميان په کراچيو کي روغتونونو ته وړل کيدل او دا چي په اکثره روغتونونو کي درمل او يا ډاکتران نه وو، د مرګ کومي ته ورغلي دي. اکثره خلك تري تم شوي دي چا تر ډيره پوري د رالويدلو کورنو لاندي خاورو کي د ژوند سره وداع کړيده.

د جدي د يولسمي نيټي نه د جدي د اتلسمي نيټي پوري چه د جنګي او اقتصادي محاصري کومه کربلا جاري وه هغه هغه چاته معلومه ده څوك چه د جنګ د خونړي قيام شاهدان دي او پدي لړ کي يي د جهاد او قيام د ځمکني او هوائي ګوزارونو صحني د نږدي نه ليدلي او حتي لمس کړي يي دي.

د څلورويشت ساعته ډزبندي په ورځ چه د کابل د ښار نه د څرخي پله خواته د خلکو کومي قافلي رارواني وي او د سختي يخني سره سره ښځو او ماشومانو کومي مندي راوهلي هغه وخت ښه تمثليدلي شول چه د کيمري په لينز کي راغلي واي.

د یادوني وړ ده چه د جنګونو او مصیبتونو څخه د فایدې د اوچتولو دپاره د موټرو خاوندانو هم خپل حرص اوښوده او دجنګ ځپلو ښاریانو له مجبورې نه د ناجائزه ګټې اخستلو په لړ کې یې د هرې جنګ ځپلي سورلې نه د کابل نه تر جلال آباده پورې د لسونه تر شلو زرو افغانیو پورې کرایه اخستې ده او په دې توګه یې یو شمیر ښاریان د کابل د اور نه بچ کړي دي.

خبریال زیاتوي چې د شنبې د سهار په لسوبجو د څرخي پول دموټرو په هډه کې چه په زرګونو ښاریان په کې راټول شوي وو هغه ښځه مې ولیده چه په سرو سترګو ئې ژړل او ویل یې چې شپیته زره افغاني کرایه ورنه یواځې ټیکسي موټر اخستې دي او جلال آباد ته د تګ کرایه ورسره نه وه پاتې. زه د هغه چا سره هم د مصیبتونو په دې هډه کې مخ شوم چا چه په قلعه زمان خان کې خپل زلمې ورور په همدې شیبه کې د کور په انګړ کې ښخ کړي ؤ کور ئې قلف کړي وو او د جنګ د شدت نه ئې ورندار او وریرونه جلال آباد ته انتقالول.

لنده داچه د کابل د ښار اوسیدونکي چه د پنځلسو کالو راهیسې د جنګ د مصیبتونوسره لاس او ګریوان دي په دې تمام عیار جنګ کې هر څه له لاسه ورکړه. د کابل ښار پاتې ودانې او تاریخي اثار له مینځه لاړل او د چا خبره چه پخوانې کابل باید د سره نقشه او ودان کړې شي تربوي اندازې پورې مصداق پیداکړي دي.

د افغانستان د جنګ ځپلې خاورې بچیانو! دا جنګونه او جګړې به تر څو وي؟ او ترڅو به د اسلام د ښمنان د بې ګناه مسلمانانو له سلګو او وینو بهیدلو نه خوند اخلې؟ تر کومه به مو په ننګ او ناموس لوبې کیږې او ملي او شخصي شتمنې به مولوټ کیږي؟ څوک به راته بیا دا وران او کنډر هیواد جوړوي، او که جوړوي یې نو ولې او د څه دپاره؟

دا ټولې هغه پوښتنې دي چې ددې مظلومې خاورې مؤمن بچې ته راجع کیږي. دا امید له هغه چا کیږي چې هغه د خپل ضمیر خاوند وي او د بل په لاسو د لوبیدلو سره حساسیت لري او په هر ډول مصیبت او مشکل کې یوازې هغه واحد ذات ته د خپل مشکل د حل لپاره پناه وړي او غوښتنه ترې کوي، دهغه ذات د رالیږلي قانون عظیم الشان قرآن فیصلې ته ځان سپاري، او انساني ځواک د خپلې کامیابې او هدف ته د رسیدلو لپاره نه استعمالوي.

راځې اوس هم وخت له سره دي، صرف له غرضه او قدرت طلبۍ تیریدل دي. راځې دا معمولې تناکه په یو زړه وزغمې او د زرګونو بې ګناه مسلمانانو ژوند د مرګ له کومې راوباسې! د څوارلس کلن مقدس جهاد سپیڅلې ارمان چې په هیواد کې پاك اسلامي نظام دي له منځه مه وړې! دا جهاد د ګلونو غوندې ځوانانو په وینو او قربانو د برې درشل ته رسیدلي دي، راځې د هغو لکونو شهیدانو کونډو میرمنو او یتیمانو ته د خوشحالۍ پیغام ورکړو او ترمې ترمې اوښکې یې وچې کړو، راځې دا په کنډوالو بدل هیواد په خپلو لاسونو آباد کړو . ځواني او ناځواني په ورانولو نه بلکه د هیواد په اعمار کې معلومه کړو او نور د افغانستان د ځوریدلې او کړیدلې اولس د اور له لمبو نه دلوې الله تعالی د رضا په خاطر راوباسو.

تنظيمي تعصبات د مسلمان امت لپاره خير نه بلکه شر دی

(مولوی سميع الله)

د دعوت مجلې اختصاصي خبريال د جماعة الدعوة الى القرآن والسنة له امير شيخ سميع الله سره د افغانستان د کنړونو ولايت د اسلامي امارت د منحليدو او په ځای يې د دولتي اداري د جوړيدو په باب مرکه کړې ده چه مونږ يې ددعوت مجلې د قدرمنو لوستونکو په خدمت کې وړاندې کوو:

پوښتنه: دا يو څرګند حقيقت دی چه د افغانستان جهاد چه د ملحد رژيم په مقابل کی پيل شوی ؤ، د کنړونو ولايت څخه يې سرچينه نيولې او همدا ولايت ؤ چه د لومړی ځل لپاره د مسلمانو مجاهدينو په بې شميره قربانيو الله تعالى آزاد کړ، د جهاد د امام شهيد شيخ جميل الرحمن رحمه الله د سرپرستی لاندی پرې اسلامي امارت تأسيس شو، اسلامي شريعت تنفيذ شو او په سيمه کی پوره امنيت تأمين ؤ. پدی وروستيو وختو کې اسلامي امارت منحل او په ځای يې يوه مشترکه دولتی اداره منځته راغله ددی عوامل او اسباب د لطف له مخې ذکر کړی؟

ځواب: دا يو مسلم حقيقت دی چه جهاد د لومړی ځل لپاره د کنړونو ولايت څخه شروع او بيادافغانستان نورو ولايتونو ته تيت او خپور شو او همدا لومړنی ولايت ؤچه د کمونستانو د ظلم له پنجې څخه د جهاد پواسطه آزاد شو.د جهاد چه کومه غايه او هدف ؤ، هغه دشهيد شيخ جميل الرحمن رحمه الله په قيادت او د اکثرو تنظيمونو د قوماندانانو په مخلصانه توافق د اسلامي امارت په نوم منځته راغلي دي.

اسلامي امارت په خپل دور کی قانوناً شرعي حدود او احکام تنفيذ کړل، د امن د تأمين ميوه ددی سيمې د ټولو ولسواليو او علاقه داريو خلکو وڅکله او همدا رنګه يوه د امن او سوکالي فضاء راـ منځته شوه. د کنړونو د اسلامي امارت د تأسيس په وخت کې دا وعده او تعهد شوی ؤ چه کله د کابل د کمونست رژيم د اقتدار تخته نسکوره او په ځای يې يو اسلامي دولت منځته راشي، د کنړونو ولايت به هم د پخوا پشان د افغانستان د اسلامي دولت يو جز وی. او همداسی وشول، کله چه په افغانستان کی د اسلامي حکومت په عنوان اعلان وشو، د کنړونو اسلامي امارت چه زياته برخه يې د جماعة الدعوة څخه تشکيله شوی وه، لازمه وګڼله چه اسلامي امارت د يو اسلامي حکومت د قيام پخاطر خپل پيوستون او ملاتړ د اسلامي حکومت سره اعلان

کړي. دا د افغانستان او اسلام ددښمنانو د هغو ناروا پروپاګنډو غوښ ځواب ؤ چه ويل به يې چه د کنړونو اسلامي امارت دافغانستان د تجزيه کيدو لپاره جوړ شويدی.

اوس د افغانستان ټولو مؤمنو هيوادوالو وليدل چه ددی ډول دښمنانو ټول تبليغات دروغجن او بي اثره ثابت شو او کنړ د افغانستان يو له هغو ولايتونو څخه دی چه د اسلامي حکومت د قيام ملا تړ کوی.

ددي لپاره چي د کنړونو ولايت د مسلمانو مجاهدينو تر منځ هر ډول سياسي او تنظيمي اختلافات محوه او له مينځه لاړشي، د افغانستان جماعة الدعوة الي القرآن والسنت تنظيم خپل قاطع اکثريت په نظر کي ونه نيولو او د نورو اقليت تنظيمونو سره يو شان يې خپل برابر حقوق قبول کړل او د دولتي مشترکي اداري د جوړولو قيام يې وکړ. دا ددي لپاره چي له يوي خوا به هر ډول سياسي او تنظيمي اختلاقات ختم شي او له بلي خوا به ددي سيمي مظلومو او غريبو خلکو ته د امن او سوکالي د ژوند فضاء رامينځته شي، تر څو دي غريبو او بي وسو خلکو ته خدمت وشي او نور د ژوندانه له خوږو څخه محروم نشي.

تقريباً له يو کال راپديخوا جماعة الدعوة پدي هڅو کي بوخت دي او ددي اداري د پوره استحکام لپاره زيار باسي. جماعة الدعوة به د پخوا په شان څنګه چي د اسلامي امارت په چوکاټ کي يې خپل موقف له قرآن او سنت څخه پرته بل شي لازم ندي ګڼلي، همدارنګه به اوس هم خپل دريځ او موقف د قرآن او سنت څخه پرته بل څه وړاندي نه کړي، که اسلامي امارت ؤ، هم ټولي ورځني فيصلي او پريکړي يې د قرآن او سنت په رڼا کي تر سره کولي او که اوس مشترکه دولتي اداره ده هم زمونږ ټولي فيصلي او پريکړي به په قرآن او سنت تر سره کيږي، ځکه زمونږ د جهاد اصلي هدف او غايه د قرآن او سنت برلاسي او حاکميت دي.

الحمدلله د کنړونو د ولايت خلك ټول موحيدين او د توحيد په عقيده سمبال دي نو پدي باب هيڅوك د اختلافاتو د رامنځته کيدلو امکانات نشي برابرولي سل په سلو کي د جماعة الدعة ددي دريځ حمايت او ملاتړ کوي.

او که څوك د قرآن او سنت د قانون په نافذولو او رايج کولو کي مشکلات او اختلاقات رامنځته کوي، دا يوازي د جماعة الدعوة ددريځ مخالف نه بلکي د سيمي د ټولو مسلمانانو ددي لويي ارزو مخالف او دشمن دي. د اسلامي امارت نوم چي د جهادي شورا په نوم بدل شويدي د خپل قانوني منشور په لايحه کي يې په دي خبره ټينګار کړي دي چي زمونږ ټولي فيصلي به د قرآن او سنت مطابق حل وفصل کيږي.

پوښتنه: تاسو دا واضح کړي چي اسلامي امارت کوم څرګند او بارز کارونه په خپل دور کی سرته رسولی دی؟

ځواب: د اسلامي امارت د قيام په وخت کي امارت ډير د يادوني کارونه تر سره کړي او انجام کړي دي. د مثال په توګه حدودالله چه ددي مقصد لپاره په افغانستان کي د يو نيم مليونو څخه د زياتو شهيدانو وينه توي شوي ده او څوارلس کاله يي په پرله پسي ډول د شرق د سره، استعمار د درنو وسلو ګوليو ته خپلي سينې ډال کړي وي، اسلامي امارت ددي شهيدانو دا لومړني ارمان پوره کړي او قايم شوي دي، له ظالم څخه د مظلوم انتقام اخستل شوي، د قصاص او رجم احکام تطبق شوي دي او په پوره پيمانه امن منځ ته راغلي ؤ، مګر متأسفانه ځينو خود غرضو خلکو ددي

عظیم نعمت شکر اداء نه کړ او د وطن د ابادولو په لار کي دداسي قسم کارونو موانع وګرځیدل، په هر حال بیا هم ډیر پرمختیایي کارونه شروع شوي وو.

پوښتنه: د اوسني نوي اداري تشکیلات په څه شکل انجام شول؟

ځواب: دي ته ما مخکي هم اشاره وکړه، څرنګه چي په سیمه کي سیاسي او تنظیمي اختلافات راپیداکیدل نو ددي اختلافاتو د له مینځه وړلو پخاطر مونږه خپله اوږه ښکته کړه او خپل کثرت مو په نظر کي ونه نیولو ځکه دا هر چاته معلومه ده چي جماعة الدعوة د کنړونو په ولایت کي قاطع اکثریت لري، نظامي غندونه، ولسوالي او علاقه داري اسلامي امارت د جماعة الدعوة په اکثریت وداني کړي او فعالي کړي دي. د اختلافاتو د له منځه وړلو پخاطر مو لومړي یوه مشترکه جهادي شورئ جوړه کړه او بیا مو دولتي اداره په وجود کي راوسته.

ټولو تنظیمونو ته پکي مساویانه او برابر حق ورکړي شو. جهادي شورئ چي له څلورشپیته (٦٤) افرادو څخه تشکیل شویده، له هر تنظیم څخه پکي اته (٨)کسه اعضاء شریك دي. د دولتي اداري پوښتونه په تنظیمونو تقسیم او د انتخاباتو له لاري تعینات وشول.

پوښتنه : داسي ویل کیږي چي ځیني تنظیمونه بیخي په اقلیت کي وو، څنګه ورته د کثرت په تناسب حقوق ورکړل شول ایا دا به داختلافاتو رامنځته کیدو سبب نشي؟

ځواب: دا ښکاره خبره ده چي کثرت ددي ډول غوښتني حقدار دي لیکن که پدي شرایطو کي له ګذشت څخه کار وانه خستل شي د سیمي امنیت ته سخت خطر متوجه کیدي شي، ځکه ځیني تنظیمونه داقلیت په شکل او بلکی کالعدم شمیرل کیدل، خو ددي لپاره چي د مسلمانانو ترمنځ دوحدت رسۍ ټینګه شي او تنظیمي تعصبات د خلکو له اذهانو څخه ختم شي نو پدي خاطر ټولو ته مساوي حقوق ورکړل شول، دا تنظیمي تعصبات د مسلمان امت لپاره خیر نه بلکي شر دي، دا ملت ټوټه ټوټه کوي او د خجالت او ناکامي سره یي مخامخ کوي.

پوښتنه: د جماعة الدعوت الي القرآن والسنت آینده طرزالعمل به څرنګه وي؟

ځواب: د جماعة الدعوت الي القرآن والسنت کار او عمل ددي له نوم او عنوان څخه ډیر ښه جوتیږي. لکه څنګه چي د جهاد په دوران کي کوم کار او عمل کاؤ، اوس به هم په همغه لاره روان وي. جماعة الدعوة د مسلح جهاد د کولو سره سره د مجاهدینو او مهاجرینو د اولادونو په اسلامي تعلیماتو روزل او په صحیحو عقایدو سمبالول، ټول خلك د قرآن او سنت لور ته بلل او دعوت کول دي، دا سلسله به د قیامت تر ورځي انشا الله جاري ساتي. د ټولو مسلمانانو سره به د خیر په کارونو کي سهیم او له شر څخه به یي د منع کیدلو کوشش کوي.

یادونه:

ددعوت مجلي درنو او قدرمنو لوستنکو! ددعوت مجلي پدي ګڼه کي مونږ دوه سلسله وارمضامین "تعلیمات اسلامي" او "د پغمبرلار" د مضامینو د کثرت په وجه پاتي شول. انشاء الله په راتلونکو ګڼو کي به دغه سلسله جاري وي. هیله ده چه معذرت مو ومني؛

(اداره)

د کونړونو اسلامي امارت
د فکر او قلم په هنداره کې

دافغانستان دکونړونو داسلامي امارت موده د افغانستان په جهادي تاریخ کې طلائي رول تشکیلوي.

ددې اسلامي امارت قیام د افغانستان دمسلمان ملت د بې شمیره قربانیو دغوښتنو مثبت ځواب دی. دکونړونو اسلامي امارت د ۱٤۱۰ هـ ق کال د شوال د میاشتې په ۱۰مه نیټه دجهاد د شهید امام الشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) په لاس له ډیرو هلوځلو وروسته تأسیس او په ۱۳۷۳/۲/۲۹ نیټه د افغانستان د اسلامي دولت د قیام نه یونیم کال وروسته د کونړونواسلامي امارت ددولت سره د پیوستون اعلان وکړ. پدې لړ کې ددعوت مجلې لازمه وګڼله چه د کونړونو د اسلامي امارت د مسئولینو او داهل فکر او نظرخاوندانو افکار او نظریات پدې باب راجمعه او لوستونکو ته ئې وړاندې کړي!

● ولي الله «غلام» لیکي: د کنړونو په اسلامي امارت کې مې کوم خاص مسئولیت نه درلود، مګر داچې له ډیرو پیړیو وروسته د ځمکې د مخ په یو کنج کې د اسلامي خلافت دبیا ژوندي کیدلو کوشش کیده او عملاً هم پیاده شو نو مادیو مسلمان په صفت دا خپله فریضه وګڼله، چې د یو عادي عسکر په څیر خپل ایماني او اسلامي فرایض تربوه حده سرته ورسوم. مونږ له یوې خوا ددې اسلامي اداري خدمت ایماني فرض ګاڼه او له بلې خوا مو ددې تسلي کیده چې کیداي شي ددې اداري په قیام او د اسلامي شریعت په تنفیذولو کې دنړې پر مخ په یوه لویشت ځمکه که هم وي، دیو نیم ملیون شهیدانو ارمانونه عملي جامه واغوندي. دغه ډول اداره جوړول په مدینه منوره کې د اولني اسلامي حکومت د مبارك قیام یاد تازه کول وو.

د اسلامي فکر خاوندانو او اسلامي حکومت یعني خلافت غوښتونکو په وړاندې دغې اداري ډیر ارزښت درلود، مونږ ولیدل چې ددې په تأسیس سره د نړې له هر ګوټ څخه متقي او نیك مسلمانان ددې اسلامي امارت د موسس او د جهاد شهید امام شیخ جمیل الرحمن رحمه الله بیعت ته وځغاښتل او هغه حدیث شریف ئې عملي کړ چې فرمائي:" (من مات ولیس فی عنقه بیعة مات میتة جاهلیه)

ددې په قیام سره که له یوې خوا د کونړونو اوسیدونکو ته بالخصوص او د افغانستان ټولو اوسیدونکو ته بالعموم یو لوی نعمت او افتخار وربه برخه شو. د شهیدانو، کونډو او یتیمانو ارمانونه د شرع الله په تنفیذ سره پوره شول او بل طرف ته چاچې ددې جهاد بنسټ ایښې ؤ او له کومه ځایه چې جهاد پیل شوې ؤ په هم هغه ځاې کې ئې دغه اسلامي اداره جوړه کړه.

دا یو حقیقت دی چې نیك مسلمانان د ډول ډول ازمیښتونو سره مخامخ کیږي او ددغه ازمیښتونو په نتیجه کې به یا انحراف او سازشونه قبلوي او یا به د غوڅ شرعي دریځ ساتنه د سر په قرباني ترسره کوي او پخپله قرباني او سربښندنه به د یو مسلمان ملت سر او شمله پورته کوي او د آینده نسلونو لپاره به یو زرین

تاریخي یاد پرېږدي. ترڅو د ازمېښتونو او کړاؤنو په لړکي دعات او دعوتګر کله هم د مستکبرینو په وړاندي سرټيټ نه کړي او سازش ته زړه ښه نه کړي، بلکي شهادت ته په سازش ترجیح ورکړي.

شهید شیخ جمیل الرحمن رحمه الله چي کله اسلامي امارت تأسیساؤ نو هغه پدي پو هیده چي اسلامي تحریك او د اسلامي خلافت إحیأبه دي د داسي کړاؤنو او د اور د بټیو سره لاس په ګریوان کړي،لیکن ددي ستونزو او مشکلاتو سره سره هغه دیو مصمم عزم خاوند ؤ او دا ټولي ستونزي یي دخپل فولادي عزم په لرلو سره حل وفصل کولي. زمونږ په یاد دي چي شهید شیخ ته په یو مجلس کی وویل شول چي دا اداره فوراً محوه کړي. شهید ورته په ځواب کي وویل « دا اداره د الله تعالي په حکم جوړه شویده او د الله تعالي په حکم به محوه کیږي، نه ئي په تأسیس کي دچانه د کته اخلو او نه ئي په محوه کیدوکي. یایي د ختمیدو شرعي فتوه پیدا کړئ او یایي په زور ختمه کړئ، زمونږبه د الله تعالي په وړاندي مسئولیت رفعه شي او بري به یو او تاسو به مجرمین ثابت شي....." » شهید رحمه الله په اخره کي ددي اعلان وکړ چي مونږ په کونړ کي شرعي اداره تاسس کړه او شرعي مسئولیت مو ترسره کړ، اوس که نور مشران ورونه غواړي کولي شي ددي زمه واري پغاړه واخلي او په دغه منوال بي پر مخ بوځي، مګر مغرضینو ددي اداري په مقابل کي تبلیغات شروع کړل چي دا دافغانستان تجزیه ده، پداسي حال کي چي افغانستان په ډیرو ټوټو تقسیم ؤ او هر قوموندان پخپل ذات کي دیو جاهلي نظام په اساس د خپلي سیمي حکمران ؤ. په ځاي ددي چي د وران او ویجاړ افغانستان غم بي خوړلي واي او په آزادو شوو سیمو کي یي د اسلامي نظام د مینځته راتلو کوشش کړي وي مګر متأسفانه قدرت غوښتونکو د جوړو ادارو په ورانولو شروع وکړه. په هر صورت نن مونږ د شهید امام هغه وعده پوره کړه چي ویلي یي وو،" کله چي په افغانستان کي اسلامي دولت قائم شو، دکونړ ولایت به د هغي جزء وي." مګر افسوس د هغو خلکو په حال چي ددي اداري قیام ورته تجزیه ښکاریده، نن پخپله د تجزیي په حال کي د راکټونو ترشا ناست او نه پرېږدي چي دا ویجاړ او زخمي افغانستان جوړ او دا مظلوم او مسلمان ملت د امنیت په فضاء کي ساه واخلي. عجیبه خبره خو داده په ځاي ددي چي تقدیر او تمجید شوي واي او دیو سرمشق په ډول نورو مناطقو ته انتقال شوي واي، ددي برعکس یي مخالفت پیل کړ او بالآخره دغه مخالفت دي ته ورسید چي ددي اداري د افرادو مال او ځان مباح وګڼل شي او له هر طرفه دیرغل لاندي رغلل. په هر صورت دوي چي هر څه وکړل تاریخ پري ګواه دي.

ددي ټولو ناکردو باوجود جماعة الدعوة د اخلاص په فضاء کي ټولو ورونو ته لاس اوږد کړ او په متحده اداره کي یي ورته ښه رغلاست ووایه. مونږ هیله مند یو چي زمونږ ورونه به ددي عمل قدرداني وکړي او په اخلاص سره به د اسلامي نظام په تطبیق کي تعاون او مرسته وکړي.

او د ورانیدو په ځاي به دجوړیدو فکر ته وده ورکړي.

دا چي جماعة الدعوة یو عقیدوي تنظیم دي او شهید رحمه الله پخپل ژوند کي په تعلیم او تربیه ترکیز کړي دي، بي شمیره ځوانان یي ددعوت ډګر ته اماده کړي او پدي باب معناً یو غني جماعت دي. ددي اړخه چه د جماعت آینده برنامي به د کمزوري سره مخامخ شي، مونږه مطمئین یو چي انشاءالله ددي تګ لاري وفادارو او مخلصو افرادو او خصوصاً ځوانه طبقه د جماعت او د شهید امام رحمه الله د منهج په ارتقاء کي پوره جدوجهد

کوي او په افغانستان کي د خپل قرباني شوي مشرتابه په ډول نوي زريني کربني او بابونه په تاريخ کي اضافه کوي. زمونږه داميدونوهغه غوټي چي د جماعت له مدارسو څخه فارغ شوي او تربيه شوي، د سرنشاره ځوانانو په بڼه کي په غوړېدو دي.

● **حاجي روح الله ليکي:** چي په اسلامي امارت کي مو کوم مسئوليت نه درلوده . امّا د يو مسلمان په حيث مي پدي ځان موظف ګڼلي دي او دا مو خپل فرض ګڼلي دي چه ددي اسلامي امارت د يو سپاهي په ډول تل د قرباني په ميدان کي حاضر اوسم.

د اسلامي امارت د تأسيس اهداف ټولو ته څرګند دي او مقاصد ئي تل شيخ رحمه الله پخپلو ويناګانو کي واضح کړي دي او همدارنګه ددي اداري په اهدافو کي دا اعلان شوي ؤ چه د اسلامي امارت قيام کومه تجزيه يا تفرقه نه، بلکه پدي آزاده خاوره کي د محمدي شريعت نفاذ او د امنيت قيام دي. او ددي ثابتول دي چه اسلامي قانون تل د تطبيق وړدي. همدا علت ؤ چه ددي اداري په تأسيس سره مونږ د خارجي او داخلي فشارونو سره مخامخ شو، هغه څوک چه د لوئي او قدرت طلبي په فکر کي وو مخالفت ئي شروع کړ او يو لړ مشکلات ئي رامينځته کړل.

دغه مرحله هم الحدلله تيره شوه، د شهيد مشر شيخ رحمه الله هغه نيك مقاصد ترسره شول او دنيا ته ئي وښودله چه شريعت قابل تطبيق دي او امنيت ضامن دي، دغه دوره د افغانانو په تاريخ کي يوه طلائي دوره حسابيږي.

● **ډګر جنرال حاجي جانداد:**

چي په اسلامي امارت کي مي ديو عسکر او ساتندوي په حيث وظيفه اجراء کړي ده.

د کونړونو اسلامي امارت دجوړولو مقصد د الله تعالي دحکم عملي کول وو.

او ددي لپاره مونږه جهاد کړي ؤ. مونږ پدي د الله تعالي څخه ډير خوښ يو چه د اسلامي امارت او د حدودو د اجراکولو توانائي ئي راکړه او ددي حدودو ساتندويي موکړي ده، دغه وخت زمونږ د ژوند له اهمو پړاؤنو څخه شمارل کيږي.

کله چي مونږ اسلامي امارت جوړاوه، د جهاد شهيد امام مونږ ته دا وويل چه دداسي اسلامي اداري جوړول به په څنګ کي ډير تکاليف ولري، ځکه د اسلام دښمنان نه غواړي چه واقعي اسلامي نظام پدي ملك کي حاکم شي. مونږ ورته مثبت ځواب ورکړ او پدي لار کي مو دهر قسم قرباني داد ورکړ. الحمدلله څه ناڅه مو ددغي شرعي اداري خدمت وکولاي شو. اوس چه اسلامي دولت جوړ شوي دي، نو ضروري داده چه دا اداره ددولت سره پيوسته شي. او په ګډه په ټول ملك کي د امنيت د راوستلو لپاره کوششونه وکړو.

دکونړونو ولايت موجود والي حاجي غلام صادق (قاضي اخونزاده) د اسلامي امارت په باب داسي څرګندونه کوي:

د کونړونو د ولايت څخه د لومړي ځل دپاره د جهاد او دعوت طلوع شوي ده. نوالله تعالي دا وياړ هم دکونړونو د ولايت د مسلمانو خلکو په برخه کړ چه په همدي ولايت کي د يوي اسلامي اداري په جوړولو وتوانيدل. که دا اداره (اسلامي امارت) مينځ ته نه واي راغلي نو دلته به هم يو جاهلي او قبائيلي نظام ځاي نيولي واي. او ټولو خلکو ته به له تکليف څخه پرته بل څه په لاس کي نه ميسر کيدل. ددعوت او جهاد د امام دا ارمان ؤ چي پخپل ژوند کي د شرع الله انفاذ د عمل په ډګر کي وګوري او الله تعالي دغه نعمت د شهيد شيخ جميل الرحمن رحمه الله او د کونړونو ولايت د مسلمان ولس په نصيب کړ. په دي اساس ددي خطي دخلکو په عزت کي نور هم ابادښت

راغي، امنیت تأمین، اسلامي حدود نافذ،خلك د منكراتو څخه منعه او د خیر طرفته دعوت شول. او منطقي ترمځکنه حده دترقۍ لار ونیوله، داچه اسلامي دولت جوړ شوي دي او د کونړونو ولایت هم د افغانستان د نورو ولایاتو غوندي یو ولایت دي، خوکله چي د ملحد رژیم له ظالمي پنجي څخه ازاد شو، د اسلامي امارت اعلان پري وشو او دا ددي شرعي حکم عملي قدم ؤ چي کله یوه لویشت ځمکه هم د مسلمانانو په لاس ورشي باید د اسلامي نظام زرین څادر پري وغوړول شي". نو څرنګه چي اوس په افغانستان کي د یو اسلامي دولت اعلان شوي دي، غوره داده چي دا د مرکز سره وصل شي او دیو ولایت په حیث پاتي شي. ددي وعده شیخ رحمه الله په شروع کي کړي وه، د اسلامي امارت قیام د اسلامي نړي او د اسلامي حکومت غوښتونکو لپاره یو ویاړ دي چه تل به یادوي.

● **شهیدالله** دکونړونو د اسلامي امارت د دارالإنشأ د ریاست مسئول:

د کوم هدف لپاره چي په افغانستان کي جهاد شروع شوي ؤ، همغه هدف لپاره اسلامي امارت قیام وموند.

یو نیم میلیون شهیدان چي د کوم مقصد په خاطر قرباني شویدي همغه د اسلامي امارت د قیام هدف ؤ.

کله چي د کابل راډیو څخه د اسلامي دولت اعلان شویدي نو د کونړونو د اسلامي امارت شورئ د خپلو قبلي قراردادونو او فیصلو سره سم په مشروط ډول ددغه اعلان شوي اسلامي دولت سره دهمکارۍ اعلان کړیدي.

او د دولت سره د پیوستون شرایط ئي په لاندي ډول اعلان کړي دي:

١- قرآن او سنت په دغه حکومت کي د قانون په حیث اعلان شي.

٢- د تیر کفري حکومت بقایاوي (کمونستان) په حساسو او مهمو پوستونو کي توظیف نه شي ، بلکه د هغوي سره شرعي معامله او فیصله وشي.

٣- غیر اسلامي ګوندونه غیر قانوني اعلان شي او په هغوي کلکه پابندي ولګول شي.

٤- د تیر غیر قانوني حکومت بیروني قراردادونه او تعاهدات لغوه اعلان شي.

مونږ اسلامي امارت من حیث المجموع د حکومت سره پیوستون مستقیماً نه دي کړي.

او نه دغه فعلي حکومت زمونږه اداري د شان او حقوقو برابرداسي روابط ساتلي دي چي مونږ ددغه روابطو له مخي په مجموعي توګه حکومت سره پیوستون وکړو، بلکه مونږ مسلسل رابطه کړیده خو مثبت جواب ندي ویل شوي نو مونږه د اسلامي امارت شورئ د کنړ په سطحه د ټولو تنظیمونو ولایتي نماینده ګانو ته دعوت ورکړیدي چي په کنړ کي ولایتي اداره جوړه کړواو د اسلامي دولت څخه د ولایت حقوق په سیاسي او اقتصادي برخو کي تر لاسه کړو.

مونږه اسلامي امارت د اقتصادي ضعف په خاطر دولت ته نه دي سپارلي بلکه د تنظیمونو د مشترك نظام د جوړولو په خاطر یو بدیل داسي نظام عوض کړیدي چي په هغه نظام کي قرآن او سنت یو قانون وي او د اسلامي اصولونه به کلکه دفاع کوي او ټول اسلامي حدود به نافذوي.

جماعة الدعوت الي القرآن والسنت داسي یو عقیدوي او فکري تنظیم دي چه همیشه د اسلام په اصولو ولاړ او د اسلافو دخط پیروري . ددي تنظیم باني شهید شیخ جمیل الرحن رحمه الله

په ټولو قضایاؤ او مسایلو کي ددي تنظیم د منشور په خاطر یو جدا او ممتاز موقف درلوده او هرنوعه سازش او سیاسي ائتلافونه او اتحادونه چه د اسلام په اصولو به ولاړ نه وو او اخلاص به پکي نه ؤ، په متوکلانه

توګه ئي ورڅخه ځان ګوښه ساتلي دي.

او همیشه په خپل اسلامي سوچه موقف تنها مستقیم پاتي شوي دي، د هیڅا د فشار او سیاسي دباؤ تر تاثیر لاندي نه دي راغلي.

نو زما له نظره جماعة الدعوت به همدغه برنامه خپله خط مشي ګڼي او ددعوت لاره به تعقیبوي او د هر باطل او سازش په وړاندي به خپل اسلامي مسئولیت رفع کوي.

دیو سوچه پاك سپیڅلي اسلامي نظام ترقیام پوري به خپله ذمه واري انجاموي، د کونړونو اسلامي امارت په خپل مختصر دوړ کي دغه د ذکر وړ کارونه ترسره کړي دي:

۱- دقصاص جدود جاري کول.
۲- دمنکراتو بندول.
۳- محتسبان مقررول.
٤- دیني مدارس تأسیسول.
٥- د زکات او عشر دنظام قایمول.
٦- خیریه مؤسسات او ادارات رهنمائي او توجیه کول لکه:

الف:- دبندونو او ویالو جوړول.
ب:- دسړکونو جوړول.
ج:- دکوهیانو جوړول او پخول.
د:- دمکتبونو اومدارسو دتعمیرونو ترمیمول او یا نوي جوړول.
ه:- په مرکز او اطرافو کي دصحي کلینکونه جوړول.
ر:- د پلونو جوړول.
ز:- د پوره امنیت زمینه برابرول.

د کونړونو په اسلامي امارت کي پرته له جماعة الدعوت په مجموعي توګه یو جهادي تنظیم هم برخه نه وه اخستلي مګر په جهادي تنظیمونو کي د پاخه عقل خاوندانو او سیاسي شخصیتونو چه د پوره بصیرت خاوندان وو او هم معقولو قومي مشرانو چه په هر تنظیم پوري تعلق درلوده په انفرادي او اجتماعي توګه ئي په دغه اسلامي امارت کي برخه اخستلي وه.

چه په دغه حساب دهر تنظیم اهل الرائي اوخبیرو اشخاصو شمولیت په اسلامي امارت کي اسلامي امارت ته شرعي او قانوني بنه وربخښلي وه.

په اسلام کي اهل حل وعقد او اهل رائي له اعتباردي نه تنظیمونو او ډلو ډلګو لره.

بلکه ډلي ټپلي چه د اشخاصو د وجاهت او عزت لپاره جوړي وي هغه هیڅ شرعي حثیت نه لري.

نو په دي لحاظ ځنو منفعت پرسته عناصرو د اسلامي امارت مخالفت او مقابله شروع کړه.

دا چه اوس ټول افغانستان د مجاهدینو په لاس کي دي نود اسلامي امارت شوري فیصله وکړه چه ټولو تنظیمونو ته دي دعوت ورکړي شي. فعلاً «۸» اته جهادي تنظیمونه په اسلامي ولایتي شوري کي عضویت لري، تر اوسه پوري دولتي اداري عملاً په کار شروع نه ده کړي چه د اسلامي امارت له اداري سره مقایسه شي.

د اسلامي امارت اداره ډیره پرامنه او دسیمي د اوسیدونکو تنده ماتونکي اداره وه.

ټول اجرائت ئي په عدالت ولاړ وو. د هر مراجع د احتیاج سره سم اقدام کیده.

د اسلامي امارت مثل او نظیر په اوس وخت کي نه شي لیدل کیدلي.

● **مولوي عبدالرحمن:** چي د کونړونو په اسلامي امارت کي یي د مرستیال امیر په حیث وظیفه اجراء کوله د کونړونو د اسلامي امارت په باب خپل تاثرات داسي څرګندوي:

زمونږه هدف د اسلامي امارت د قیام څخه د شرع الله تنفیذ او د جهاد مقاصد په عمل کي کول وو. او له بله پلوه مو هڅه کوله چه د خلافت راشده احیاء وکړو او دنیا ته ثابته کړو چه اسلام دژوند قانون اوهر وخت او هر ځاي کي د تنفیذ وړ دي. الحمدلله مونږ مطمئن یو چه تر ممکنه حده دغه هدف پلاس راغلي. داچه اسلامي

دولت جوړشوي دي او لازمه داده چه د کونړونو ولایت مستقل نه بلکه د اسلامي دولت یو جز وي.

● **محمدزمین: د احتساب د ریاست معاون:**

د اسلامي امارت د قیام مقصد د الله تعالی دین لوړېږي په کونړ او بیا په ټول افغانستان کي د یو رسمي قانون په حیث عملي وړاندي کول وو.

د اسلامي امارت پیوستون د موجوده اسلامي دولت سره په دې وجه شوي دي چه د امارت په خطهء مشی کي مونږ اعلان کړی ؤ چه کله په کابل کي اسلامي دولت جوړشي نو د کونړونو ولایت اسلامي امارت به دهغه جز وي.

د اسلامي امارت په دور کي ډیر د یادوني وړ کارونه انجام شویدي لکه حدود الله قایم شو، رشوت ختم شو، امنیت تامین شو، د فرد په فرد ظلم ختم شو، د خلفاي راشدینو د دور یو مثال قایم شو. د ولایت د مسلمانو خلکو دهوساینې لپاره ئي بندونه، ویالي، جماعتونه، دیني مدارس او خصوصاً د اسدآباد دبرېښنا مرکز چه له کاره غورځېدلي ؤ ترمیم او د خلکود استفادي وړ ئي کړ.

لنډه داچي ټول افغانستان ته د همدي کونړ څخه اسلامي انقلاب خپور شو او د ټولو ولایاتونو لپاره کنړ د عبرت یو مرکز جوړشو اوهم اکثرو ولایاتو ته مونږ ددیني مدارسو نور خپور کړ.

● **مولوي فخرالدین: دکونړونو داسلامي امارت یو نظامي قوماندان:**

داسلامي امارت د قیام اهداف جهاد في سبیل الله، اسلامي اخوت، صلة الرحمي، د اسلامي قوانینو نفاذ او د خلفاي راشدینو په نقش قدم عمل کول وو.

د اسلامي امارت ارتباطات د موجوده اسلامي دولت سره ډیربنه دي.

د اسلامي امارت باني مظلوم شهید شیخ جمیل الرحمن رحمه الله وصیت ؤ چه کله په افغانستان کي اسلامي دولت اعلان شي او د ملحدینو قواوي دافغانستان څخه نابودي شي، د کونړونو اسلامي امارت به د هیواد د اسلامي دولت جز ګڼل کیږي.

په جغرافیائي لحاظ اسلامي امارت د اسلامي دولت څخه کوم جلا حیثیت نه تشکلوي.

هغه اشتباه ګاني چي خلك ئي د جماعة الدعوت د مالي کمزوري په هکله کوي دغه یوازي د جماعة الدعوت نه بلکي ټول تنظیمونه ددغه مالي بحران سره مخ دي. څرنګه چي جماعة الدعوت یو عقیدوي جماعت دي نو مالي ستونزي یې خنډ کیدي نشي او انشاءالله د خپل منشور د منزل په لور ډیر پیاوړي قدمونه اخلي.

دجماعة الدعوت آینده برنامي ښکاره او د ثبوت په توګه امتحان شویدي. دجماعة الدعوت مرام دعوت الي الله دي، ټول انبیاء علیهم السلام ددي دعوت لپاره رالیږل شوي وو نو دي جماعت همدغه دانبیاؤ ددعوت سلسله په نظر کي ده.

اسلامي امارت کي په رسمي ډول ځینو جهادي تنظیمونو برخه اخستي وه البته په اوسني اسلامي دولتي اداره کي اته «۸» تنظیمونه برخه لري.

مونږ د اسلامي امارت او د دولتي اداري په هکله کومه مقائسه نه شو کولاتي، البته هره اداره او نظام حکومت چي د اسلامي اساساتو په استناد جوړشي،. هغې ته د اسلامي اداري نوم ورکول کیږي.

● **جګړن شیرخان: په اسلامي امارت کي د نظامي چارو مشاور:**

د کونړونو د اسلامي امارت اهداف د قرآن او سنتو بالا دستي وه اود انسانانو د ژوند او د بندګي چوکاټ د قرآن او سنتو په رڼا کي تنظمول وو. داچه د کونړ ولایت آزاد شوي ؤ، د نبي کریم صلي الله علیه وسلم د نقش قدم په خاطر اسلامي امارت د شهید شیخ رحمه الله لخوا اعلان شو.

د اسلامي امارت ارتباطات له موجوده اسلامي دولت سره د شهيد شيخ رحمه الله هغه وينا وه چه څه وخت په افغانستان کې واقعي اسلامي دولت مينځ ته راشي او قرآن او سنت ددې حکومت تګ لاره وي نو اسلامي امارت هم ددې حکومت يو جز دې.

که څوک داسې فکر کوي چه اسلامي امارت د مالي کمزورۍ له امله له دولت سره پيوستون اعلان کړې نو د جهاد په شروع کې هم مالي کمزورتياوې موجودې وې خو اراده مضبوطه وه او دا کار په اراده او عقيده پورې تعلق لري.

د جماعة الدعوت برنامه خو واضح ده. يواځې د پرمختګ لپاره زهبري دستګاه بايد په ايماني او عقيدوي قوت مجهزه وي، هيڅ نوعه نفسي تشبسات وجود ونه لري، خپلې ګټې د اجتماعي ګټو قربان شي، نه دا چه د اجتماع په ګټه کې خپلې ګټې ولټولې شي، چه دا کار د الله تعالی ددين سره ښکاره خيانت دي او د تنظيم د مخکې تګ خنډ دي.

د اسلامي امارت په دور کې د الله تعالی حدود نافذ شوي، ديني مدرسې جوړې شوې، په ټول کونړ کې امنيت قائم شوي، مخدره مواد بند او د ترياکو کر کرونده بنده شوې، د ظالم د ظلم نه مظلوم بچ شوي او تعميري کارونه څه ناڅه د توجه وړ ګرځيدلي وو او خارجي مؤسساتو ته د بيا ودانولو لپاره د امنيت زمينه مساعده شوې وه.

● عبد الرحمن: د کونړونو د اسلامي امارت د عدل او قضاء رئيس:

د الله تعالی قانون د الله تعالی په ځمکه د الله تعالی په مخلوق نافذول او تطبيق کول د اسلامي امارت اهم مقصود او هدف ؤ.

د سابقه فيصلو په اساس چه په افغانستان کې اسلامي دولت اوحکومت اعلان شي نو دا ولايت به هم د هغې يو جزء وي او د الله تعالی حکم هميشه په اتحاد دي نه په اختلاف. په موجوده دولت کې اګر چه کمونستان پکې شامل دي خو انشاءالله تعالی چه په آينده کې به تصفيه شي، دغه پيوستون چه د اسلامي دولت سره شوي دي، د مجاهدينو د متحد کيدو او يوځاي کيدو په اساس مينځ ته راغلي.

دا چه يو کار د چا په نظر اوعقيده کې ددين، جنت اود الله تعالی رضاهدف وي او په هغې باندي خپله دوامداره مجاهده وکړي نو هغه به ددنيا ټول اسباب ترک کوي.

نو زه په خپله عقيده دا خبره حقيقت نه ګڼم چه د اسلامي دولت سره چه واقعاً اسلامي حکومت شي، ددنيا او پيسو په وجه پيوستوالي راشي.

د ايمان، دين او اسلام په رڼاکې چه نه هيردونکي دي د ټولو مسلمانانو د خايسته ژوند او امنيت اسباب دي.

دا چه د اسلامي امارت کارنامې ښکاره او واضح دي اما دولتي اداري کارونه چه کله شروع شي نوبيا مقائيسه کولې شومګر تراوسه نورتنظيمونه خپلو وظيفو ته رسماً ندي حاضرشوي نو مقائيسه نه شوکولای.

● پاچاجان: د کونړونو ولايت داسمار د ولسوالي د امنيت قوماندان:

د اسلامي امارت ارتباطات د موجوده اسلامي دولت سره په دي اړوند تينګ شويدي چه د اسلامي امارت مشر شهيد مولوي صاحب جميل الرحمن په خپله وينا کې کړي وه، چه هرکله په افغانستان کې يو اسلامي دولت مينځ ته راشي نو اسلامي امارت به ئې پلوي کوي او اسلامي دولت سره به يوځاي حکومت جوړوي نود اسلامي امارت مشرانو د مولوي صاحب دغه وينا لازمه وګڼله او د هغوي سره ئې يوځاي تشکيل برابرکړ، که چيرته د قرآن او سنت څخه ئې سرغړونه وکړه نو اسلامي امارت به بيا هم جهاد ته ادامه ورکوي.

د اسلامي امارت پيوستون ددولت

سره د مالي کمزوري په واسطه نه دي ځکه چه مالي کمزوري یواځې د اسلامي امارت نه بلکه ټول جهادي تنظیمونه د مالي کمزوري سره مخ دي، اسلامي امارت د اسلامي یوالي په لحاظ له دولت سره پیوستون کړي دي. چه په کونړکي امن راشي او په کونړ کي د ټولو جهادي تنظیمونو اتفاق او یوالي پیداشي. د قرآن اوسنت په رڼا کي خلکو ته خدمت وشي.

د کونړونو ولایت په اسلامي امارت کي ټولو جهادي تنظیمونو برخه اخستي وه خو ځینو د خپلو خود غرضیو په خاطر د اسلامي امارت له چوکاټ څخه ووتل مګر بعضي کسان چه په همدي جهادي تنظیمونو کي وو، هغوي د اسلامي امارت سره د عقیدي په لحاظ ملګري شول او په اوسني دولتي اداره کي خو ټول په یوه مشترکه دولتي شورئ کي ګډ دي مګر دا روښانه نه ده چه څوك به دا مسؤلیت په ایمانداري سرته ورسوي او که نه؟ خو زما شخصي نظر دادي چه انشاءالله دغه ددولتي اداري مسؤلین به دالله تعالي د رضا دحصول په خاطرخپل وظایف په پوره ایمانداري او خلوص سرته ورسوي او د افغانستان د لکونو شهیدانو ارمانونو ته به مثبت ځواب ورکړي.

● **مولوي غلام ګل:** د مرحوم محمد اشرف زوي د کونړولایت د اسلامي امارت مربوط دجامعة الدعوة مرکزي مدرسي مدیر:

د اسلامي امارت د اسلامي دولت سره د پیوستون نه وروسته په ۱۳۷۲/۸/۱۵ش نیټه ولایتي دولتي اداري تعیناتو کي د جماعة الدعوة الي القرآن والسنة په نمایندګي او د کونړ ولایت دګډي اسلامي شورئ په توافق د تعلیم او تربیي ریاست کي دمعاون په توګه تعین شوي یم.

هغه څه چه ملت او دولت ورته احتیاج لري او د اسلامي دولت په صیغه راز کي پراته دي هماغه څه د اسلامي امارت اهداف وو.

لکه تعلیم،سیاست، اقتصاد، کلتور، داخلي او خارجي ښه روابط.

د افغانستان جغرافیه کي د کونړ ولایت د افغانستان د خاوري جز ګڼل کیږي.

په کال ۱۳٤۳ش کي د کونړ ولایت د ولایت په توګه ومنل شو. د کونړ ولایت د هیواد په ختیځه سیمه کي موقعیت لري تقریباً پنځه زره کیلومتره مربع او دري سوه زره نفوس تشکلوي.

ددي ولایت مرکزي مقام اسدآباد دي. چه د جلال آباد څخه ۷۵ کیلومتره شمال ختیځ طرف کي واقع دي.

په کال ۱۳۵۷ش کي د "تره کي" د کودتا نه وروسته د کونړ ولایت مجاهدینو د مظلوم شهید شیخ جمیل الرحمان رحمه الله په قیادت مسلحانه پاځون وکړ او جهاد ئي پیل کړ.

په کال ۱۳٦۷ش کي د الله تعالي په فضل د میزان د میاشتي په ۲۰ مه نیټه دکونړ ولایت فتحه او د اسلام دشمنه او اجنبي کمونستانو څخه پاك شو.

۱٤۱۰هـ ق کال د شوال د میاشتي په ۱۵مه نیټه د جمعي مبارکي په ورځ د دم کلي په جامع مسجد کي یوه ستره تاریخي غونډه وشوه، د مظلوم شهید شیخ جمیل الرحمان رحمه الله په صدارت په کونړونو کي اسلامي امارت اعلان شو.

مرحوم شهید رحمه الله د اسلامي امارت د اساس نامي بیانیه خپره کړه، اقتصاد، تجارت، وقایه وي او تعلیمي پروګرامونه او د چاپیریال او ښه ګاونډیتوب د روابطو په هکله یي خپل نظریات په ډاګه کړه.

د کونړونو اسلامي امارت د افغانستان د اسلامي دولت سره باالاولي جزګڼل کیږي، همدا وجه وه چه په کال ۱۹۹۲ع د اپریل په میاشت کي د افغانستان د اسلامي

دولت اعلان وشو، د اعلان سره سم د کونړونو اسلامي امارت د افغانستان اسلامي دولت ته د خپل پیوستون او ملاتړ اډګیونه ورکړه. البته خلك د حقیقت څخه خبر نه دي. یا پراپیګنډي کوي، ولي چي د اسلامي امارت د پیوستون وجوهات تیرشوو خواهونو کي یاد شو. چي د حقیقت سره مترادف ګڼل کیږي.د تاریخ په مطالعه کي نه معلومیږي چه غیر شتمن هیوادونه، شتمنو هیوادونو ته تسلیم شوي دي د یو دولت اجتماع، اقتصاد، او واردات صادرات باالذات ددغي دولت اوملت شتمني بلل کیږي.

د کونړونو اسلامي امارت یا جماعة الدعوة د اقتصاد او شتمني د پرمختیا لار کي ګټور لیدل کیده، په (١٤٠٤هـ ١٣٦٣شـ) کال کي جماعة الدعوة الي القرآن والسنة د مظلوم شهید شیخ جمیل الرحمن رحمه الله په قیادت تاسس شوي. ددي جماعت اساسي هدف مخلوق د قرآن اودسنت سره آشنا کول او الله تعالي طرف ته دعوت کول دي.

د جماعت آینده برنامو کي زمونږ تاثرات هماغه دي چه څرنګه لومړي برنامو کي بنودل شوي او عملي شوي دي.

د مهاجرینو په کیمپونو او په داخل د هیواد کي د پنځه سوه نه زیاتي دیني مدرسي وجود لري چه د شهداؤ مجاهدینو او مهاجرینو څامن او لوڼه پکي په تعلیم بوخت دي.

همدارنګه دعوت او تبلیغ زمونږ د جماعت اساسي مقصد ګڼل کیږي.

دعوت او تبلیغ د پیغمبرانو علیهم السلام اتفاقي مسئله ده، د حضرت نوح علیه السلام نه تر حضرت محمد صلي الله علیه وسلم د زماني پوري چه پیغمبران علیهم السلام رالیږل شویدي ددعوت مسئله ئي قوم ته وړاندي کړیده، دغه زمونږ د جماعت اساسي هدف او مقصد دي.

د کونړونو اسلامي امارت د خپل قیام نه وروسته ډیر د یادوني وړ کارونه کړیدي ، مثلاً هغه کارونه او فعالیتونه چه دین پوري تعلق لري لکه د مدارسو تائسیس او د مساجدو تعمیر چي هغي ته ئي په بشپړه توګه وده ورکړیده. په سوونو شاګردان په مدارسو او مکاتبو کي په تعلیم بوخت دي په جوماتونو کي امامان او خطیبان مقرر شوي چه مسلمانانو ته د پنځه وخته لمونځ برسیره د صراط المستقیم بنووني کوي، دا د اسلامي امارت د ویاړ وړ کارنامه ده.

همدارنګه هغه کارونه او فعالیتونه چه د کونړونو ولایت د مسلمانانو اجتماعي منافعو سره تعلق لري په کونړونو کي اسلامي امارت په څانګړي توګه او د افغانستان دبیا ودانولو مؤسسو په مرسته بشپړ کړیدي. لکه د ویالو جوړول، د څښلو دصافو اوبو لپاره څاګاني کیندل، د چینو نه د څښلو لپاره پاکي اوبه په نلونو کي کورونو او کلو ته رسول، پلونه جوړول، د لیسو او د متوسطو تعمیرات اباد ول، زراعتي تخمونه زمیندارو ته ورکول، کیمیاوي سره شیندل، دچرګو چرګوړو نسل ساتل، په کلیوالو علاقو کي د صحي مرستو او له امراضو مخه نیول وو.

هغه څه چي د مسلمانانو ژوند ورته ضرورت لري د کونړونو اسلامي امارت ورته په درناوي کتلي دي.

مثلاً، د لاري د سلامتیا ذمه واري، د شوك مارانو او د لوټمارانو مخه نیول، ظالم په څپیړه وهل، د فحاشي او منشیاتو د لعنتونو مخه نیول.

د کونړونو اسلامي امارت د ګاونډي ولایتونو سره د ښه سلوك او اخلاقو ذمه واري سرته رسولي ده. د بدخشان، پروان او لغمان ولایتونو که ئي د مجاهدینو او تاجرانو د تلوراتلو د لارو امنیت تأمین او تضمین کړي ؤ.

د افغانستان د اسلامي دولت دقیام نه وروسته د کونړونو اسلامي امارت خپله وفاداري د افغانستان د اسلامي دولت جمهور رئیس او صدراعظم ته

اعلان کړي او د ملاتړ ډاډگیرنه ئي ورکړیده.

د ۱۹۹۳ کال نیمائي کي د کونړونو ټولو جهادي تنظیمونه د کونړونو د اسلامي امارت په شمول توافق ته ورسیدل چه په کونړ کي اسلامي امارت منحل او دولتي اسلامي اداره جوړه کړي.

د کونړونو اوسني ولایتي دولتي اداره چه د افغانستان د اسلامي دولت جمهور رئیس او صدراعظم په هدایت او فرمان سره د جوړولو حکم شویدي. اته جهادي تنظیمونه پکي گډون لري.

د هر تنظیم څخه اته تنه نمایندگان منتخب شویدي چه په موقتي توگه مولوي صاحب رحمت خان په قیادت رهبري کیږي.

دغه اته تنظیمونه چه د کونړ ولایت دگډي اسلامي جهادي شورئ غړیتوب لري، په لاندي ډول دي.

۱- حزب اسلامي (حکمتیار)
۲- حزب اسلامي (مولوي خالص)
۳- جماعة الدعوت الي القرآن والسنة
٤- حرکت انقلاب اسلامي
٥- جمعیت اسلامي
٦- جبهه نجات ملي
۷- محاذ ملي
۸- اتحاد اسلامي افغانستان

د کونړونو سابقه اسلامي امارت او اوسني اسلامي دولتي اداره کوم مقایسوي توپیر نلري.

البته، هغه اداره چه د اسلام په نوم مسمأ وي او د اسلامي حقوقو مراعت پکي ملحوظ نه وي، هغي ته د اسلام عنوان ورکول د اسلام سره ظلم گڼل کیږي.

زمونږ ارزو ده چي د کونړونو اسلامي دولتي اداره به د اسلام په نظریاتو خپل فعالیت او پیش رفت څلانده او روښانه وسائي.

● **ډاکتر میرطالب:** د کونړ د ولایت د صحت عامي معاون:

د کونړونو د اسلامي امارت اهداف د قرآن او سنت نافذ کول او د الله تعالي په مخلوق د الله تعالي قانون حاکمول وو.

د اسلامي امارت ددولت سره یوځاي کیدل مالي کمزوري نه ده بلکه دا زمونږه یوه اسلامي فریضه ده چه د اسلامي دولت سره دیو قیادت لاندي خپل شرعي او دیني احکام په یوه منظم قوت سره نافذ کړو او دا هم اسلام نه ایجابوي چه جدا جدا دي شو.

د آینده په باب هم زمونږ دا نظر دي چه زمونږ آینده مرام او هدف د الله تعالي قانون د الله تعالي په مخلوق کي نافذ شي او په آینده اسلامي دولت کي به نهي عن المنکر او امربالمعروف وظیفه سرته رسوو.

د کونړونو ولایت په اسلامي امارت کي ټولو جهادي تنظیمونو برخه اخستي وه خو متأسفانه چه وروسته بعضي عناصر د خپلو گټو او شخصي مقاصدو په خاطر د اسلامي امارت څخه باغیان شول. او اوسني اسلامي دولتي اداري کي بیا هم ټولو جهادي تنظیمونو برخه اخستي ده او انشاءالله مونږ د اسلامي امارت ټول افراد په دي مطمئین یو چه یوه اسلامي اداره به مینځ ته راځي او زمونږ د څوارلسو کالو ارمانونه به الله تعالي پوره کړي.

● **حیدر محمد :** داچه په کنړونو کي د کمونیزم حکومت د مسلمانانو د جهاد په قوت نسکور شو نو د کفري حکومت په مقابل کي اسلامي حکومت جوړول فرضي او طبعي خبره وه او د اسلامي امارت یا حکومت اهداف دژوند په ټولو شعبو او په ټولو قضایاؤ کي د شرعي حدودو نفاذ او د الهي احکامو رواجول وو.دناروا، ظلم، فحشاؤ، د بي عدالتیو مخنیوي اود شخصي اوملوك الطوایفي نظامونو او حکومتونو بدلول په یو ملي او اسلامي نظام باندي داسلامي امارت د قیام اهداف وو.

د موجوده اسلامي دولت سره د اسلامي امارت ارتباطات په ښه نیت، اخلاص او د وفاداري په بناء دي او دیو اسلامي حکومت د یقیني کیدو

او د اسلامي حدودواتو او احکامو د نفاذ په صورت کي به اسلامي امارت د اسلامي دولت لا پیاوړي قوت شي.

دا چه د اسلامي امارت مقصد په افغانستان کي د یو واحد اسلامي حکومت جوړیدل وو او چه کله اسلامي امارت جوړیده نو د افغانستان نوري برخي ازادي نه وې د افغانستان د ازادي سره سم موني یعني اسلامي امارت هم د ټول افغانستان مجاهدینو ته د یوالي دعوت ورکړ او هم پخپله د اسلامي دولت سره پیوست شو، تر څو د اسلامي واحد حکومت په ذریعه په ټول افغانستان کي اسلامي حدودات نافذ او په شریکه د ټولو فساداتو مخنیوي او د افغانستان مظلوم ملت ته د خدمت جوګه شي.

ویل کیږي چه جماعة الدعوت او اسلامي امارت د مالي کمزوري له وجي ددولت سره یوځاي شو، دا دجماعة الدعوت د منسوبینو خبره نه بلکه دا د هغه چا خبره ده چه له دي څخه ئي پخوا هم رنګ رنګ تبلیغات کړي، ځکه دوي په افغانستان کي د جماعة الدعوت د مرام د غلبي او واحد حکومت د جوړیدو په صورت کي خپل ځانونه زیانمن ویني.

د اسلامي دولت سره د اسلامي امارت پیوستون د محترم شهید شیخ جمیل الرحمن رحمه الله چه د امارت اسلامي قایدؤ د هغه د بیان له مخي شویدي چه ویل به ئي چه کله په افغانستان کي واحد اسلامي حکومت جوړ شي د کنړ اسلامي امارت به ئي جز وي او هم افغانستان دوباره جوړول، متحد کول او په یو قوي اسلامي حکومت بدلول غواړي او دا کار په انفرادي او شخصي اقتدار غوښتنه او تجزیه طلبي سرته نه بلکي په اخلاص، اتحاد، مالي او ځاني او د اقتدار په قربانولو سرته رسیږي. اسلامي امارت نه شخصي او نه شخصي اقتدار غواړي بلکي په افغانستان کي د اسلامي نظام په سیوري کي اسلامي مضبوط حکومت غواړي.

د اسلامي امارت منسوبین اولني مجاهدین اولني فاتحین او اولني اسلامي حکومت جوړونکي او د هر راز پیښو او مشکلاتو په مقابل کي محکم او د قضایاؤ په وړاندي ښه تحلیلونکي اشخاص دي چه د اسلامي دولت سره ئي داسلامي امارت پیوستون د اسلامي دولت د استحکام او اسلامي دعوت د پراختیا لاره وګڼله او د پیوستون اعلان ئي وکړ او هم ئي دامارت اسلامي په څیر ټولو خواؤته دعوت ورکړ. د اسلام او افغانستان د بیا احیاً لپاره سره یو او په یوه حکومت راټول شي.

جماعة الدعوت د افغانستان او سیمي د مسلمانانو لپاره په روان دور کي د جهالت څخه د خلاصون او د اسلامي نظام د بیا ژوندي کولو لپاره ګټور پروګرامونه لري هیله لرو چه ددي پروګرامونو له لیاري څخه مسلمانان ځانونه بي برخي نه کړي. جماعة الدعوت د خپل مرام د ژوند اولا پیاوړتوب لپاره خپل نظام د انسجام له لیاري نوي کول او په سیمه او د افغانستان په ټولو ولاباتو او دولتي ادارو کي ددعوت مرکزونه او حوزي جوړول غواړي، تر څو د جماعة الدعوت په مقابل کي ناولي مفکوري په اسلامي دلایلو ختم او ټول مسلمانان د اصیل اسلام په اصلي بڼه وپوهیږي.

اسلامي امارت جوړول په داسي سختو شرائطو کي پخپله ددین اوچت خدمت دي چه د نبي کریم صلي الله علیه وسلم او د خلفاي راشیدینو څخه وروسته منځ ته نه دي راغلي، ددي سره شرعي حدودنافذ د اسلام ددین په خپل اصلي شکل ښودل، د اسلامي مدارسو، دارالحفاظونو جوړول، د جماعتونو د امامانو لپاره مناسب کومکونه، ددیني تعلیماتو عامول او د اسلامي دعوت لاره خلاصول ددین خدمت دي.

د سیمي خلقو سره نیک تعلقات

قائیمول دوي ته د ښه ګاونډتوب او راشه درشه لپاره ښه زمینه او د ټولو ولسونو تر منځ د اسلامي وروګلوي له مخي متحد کول غوره نمونې دي.

د کنړ په ولایت کي امنیت برقرارول، دظالم څخه د مظلوم خلاصول، دتجارانو لپاره د لارو امنیت او د مالونو د خوندي کولو لپاره د قطاع الطریقو وژل او په سزا رسول، د دهقانانو لپاره په خپلو کور و کلي کي د کشت و کر اطمنان پیدا کول، دفحاشیو مخنیوي، د مقتو لینو سره دقصاص په بدل مرسته، دکنړ داهالوپه خاطر خارجي مو سسي دعوت کول اوپه کار لګیا کول، دکوندو یتیمانو لپاره دکومکي مرکزونو دجوړلو اودټولو ولسونو ترمنځ توازون برابرول دکونړ دپاره ښه خدمتونه دي. او د ټول افغانستان لپاره د کونړ اسلامي امارت دمثال غوره نمونه ده. د اسلامي امارت تأسیس د ټول افغانستان لپاره یو بنیادي تیره ایښي اوهم ددي لاري دټول افغانستان مجاهدین اکمال او خپلو مرکزونو ته په امنیت تلل راتلل ټولو مجاهدینو ته دیوالي ترغیب اوپه افغانستان کي د اسلامي حکومت د جوړولو روحیه پیداکول او د اسلام دین په خپل اصلي شکل ښوول او روا جول او هم ټولو آزادو شوو سیمو کي داسلامي نظام نفاذ اساسي خدمتونه دي.

دا چه د کنړونو اسلامی امارت دټولو تنظیمونو په پیشنهادونو او موافقو جوړشوی ؤ نو لدی وجی ټول تنظیمونه لکه جماعةالدعوة، جمعیت اسلامی ، محاذ ملی، اتحاد اسلامی، حزب اسلامی (حکمتیار)، حزب اسلامی (مولوي صاحب خالص)، جبهه نجات ملی، حرکت انقلاب اسلامي، اتحاد اسلامی (قاضی صاحب محمد امین وقاد) ، دولت اسلامی او د مولوي صاحب منصور ګروپ شامل وو. په اوسني دولتی اداره کی داسلامي امارت په شمول پورته ټول ګروپونه شریک دي د دولتي اداري او اسلامی امارت دمقایسی معیار ددولتی اداری دفعالیت څخه وروسته انتخابيږي. د روانو لیدنو او کتنو له مخي آینده ډیره تاریکه او خړه ده، ځکه د اسلامي امارت اداره د یوي سالمی رهبری او قیادت لاندی منځ ته راغلی وه. که د اخلاص څخه کار وانخستل شي او دافغانستان مظلوم ولس د ملی ښتمنیو د حفاظت او د پرديو دخدمت او غلامی څخه دخلاصون خیال ونه ساتل شی او هم مشران دملت دوګړو څخه داعتبار رایه ترلاسه نکړي نو داسلامي امارت په پر تله به دولتی اداره زیاته ګډه وډه وي، داچه اوس هر چاته دخدمت موقع اوحق ورکړشویدي او دځان غوښتنی علاوه ورته بل کوم عذرنه دي پاتی، هیله ده چه خپل اعتبار دلاسه ورنکړی او دیو اسلامی حکومت دخدمت لپاره ځانونه تیار او قربانی ورکړی او تیر عمل بد نام نکړی دالله تعالي عبادت دشیطان په خوښه او خپل ځانونه پردی غلامان معرفی نکړی.

● **خانزاد ګل:** د اسمار د ولسوالي د حضرت عبدالله ابن عمر «رض» د غند مسئول:

په کنړ کي د اول ځل لپاره د شیخ جمیل الرحمن رحمه الله په مشري جهاد شروع شو او وروسته بیاله دي ولایت څخه ټول افغانستان ته خپور او زړیني ورانګي یې منعکسي شوي او بالاخره ټولي دنیا د افغانستان مقدس جهاد په رسمیت وپیژند، همداوه چه د اول ځل لپاره فتحه او بري ددي ولایت په برخه شو، د کوم مقصد لپاره چه مجاهدینو مبارزه کوله هغه تر لاسه شوه نو دا لازمه وګڼل شوه چه پدي خاوره کي شریعت نافذ شي او هم حدودالله قائیم شي، هغه وه چي شیخ جمیل الرحمن د اسلامي امارت اعلان وکړ د اسلامي امارت په تأسیس سره په ټول ولایت کي امن تأمین شو او داسي فکر کیده کله چه نوري سیمي د کمونستانو

ځځه آزادیږي هلته به هم پدغه قسم حدود او شریعت جاري کیږي، د اسلامي امارت ارتباط د اسلامي دولت سره پدې اساس وشو چي شهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) د اسلامي امارت د اعلان په وخت کي ویلي وو چي کله په مرکز کي اسلامي دولت اعلان شو نو دکونړ اسلامي امارت به هم د هغه جزوي. نو ددغه فرمودې په اساس اسلامي امارت پیوستون د اسلامي دولت سره وشو.

کله چي په افغانستان کي جهاد شروع شو نو بهرنیو مؤسسو او اسلامي ممالکو به د جهادي تنظیمونو سره کمکونه کول نو ربنتیا چي د ټولو تنظیمونو مالي حالت کمزوري شویدي لیکن ددولت سره د جماعة الدعوت د تنظیم پیوستون د شیخ جمیل الرحمن رحمه الله هغه فرموده په ځاي کول وو چي اوس الحمدلله په مرکز کي اسلامي دولت اعلان شویدي نو په دغه اساس پیوستون اعلان شو ځرنګه چي د جماعة الدعوت تنظیم په عقیده جوړشویدي په هر حالت کي به دا تنظیم چلول کیږي، ددولت سره به په شرعي کارونو کي مرسته کوي او په غیر شرعي کارونو کي به د هیڅا ملاتړ نه کوي او بلکي د منعه کیدو کوشش به ئي کوي.

د جماعة الدعوت د اینده برنامو په هکله زما دا نظر دي چي په داخل او خارج کي دیني مدارس او دارالحفاظونه ترتیب شویدي، انشاء الله نتیجه به ئي نیکه او مثبته راوځي. لیکن په داخل کي دي دیني مدارسو ته زیاته ترجیح ورکړي شي او په ولایت او مرکز اواطرافو او حتي په ټول افغانستان کي په سازماني شکل کار وکړي شي او دعوت دي وچلولي شي، د تنظیم اساسنامه دي عملي کړي شي، د حلقو په رأس کي دي مخلص اشخاص چي مهاجر او مجاهدین وي تعین کړي شي. ددي کار د عملي کولو لپاره باید د انسجام شعبه خپلو مسئولینو ته متوجه وي، د تنظیم د ټولو اعضاؤ ته دي دکار په مقابله کي مکافات او د سستي او تمبلي په صورت کي دي مجازات ورکړي شي. او کاردي اهل کارو ته وسپارل شي او حتي په ټولو ارګانانو کي دي د ټولو اعضاؤ اخلاص، صداقت او فداکاري ارزيابي کړي چي د بري په کار د هري عضوي د کار ظرفیت زیاتیږي او مورال یي اوچتیږي او د اعضاؤ ترمنځ درجه بندي وکړي شي. انشاء الله چي تنظیم په خپلو پښو ودریږي، مونږ بي د آینده په باب مطمئین یو.

● **مغل خان:** چي په اسلامي امارت کي دمالي آمیر په حیث توظیف ؤ:

داسلامي امارت دقیام هدف داؤ. چه دالله تعالی دین په ټوله ځمکه باندي حاکم شي.

داسلامي امارت ارتباط دموجوده اسلامي دولت سره دشیخ جمیل الرحمن شهید(رح) وینا هم داسي وه چي که اسلامي دولت په افغانستان کي جوړشي نو کنړ به دهغه یو جزء وي او مونږ هم داخوښوؤ چي اسلامي امت متحدوي ځکه چي اسلام تفرقه نه خوښوي.

دا ټو ل تنظیمونه چي دولت سره یوشول دمالي کمزوري وجه به نه وه مخکي لدینه چي په افغانستان کي داتنظیم د شهید شیخ جمیل الرحمن په مشري «دامت مسلمه » په نوم چلیده نو پخپل مال او ځان سره په ډیرو سختو شرائطو کي مونږ قرباني ورکړي ده اوس به هم قرباني ورکوو. زمونږ دپیوستون أصلي علت دادي چي الله تعالي حکم کوي چي "تفرقه مه کوئ".

په کنړ کي اسلامي امارت ډیر د خیر او داسلام دفائدي کارونه کړیدي. مثلا: نهي عن المنکر کول او نیکو ته خلك رابلل او په قرآن او سنتو خلك خبرول او داسي نور.

دکنړونو ولایت داسلامي امارت په ابتدأ کي چي کمیسون وټاکل شو ټولو جهادي تنظیمونه چي په کنړ کي

وجود وو برخه اخیستلي وه. خو متأسفانه چي کله امارت قیام ومونده نو ځیني تنگ نظره تنظیمونه جداشول مگر دتنظیمونو هغه افراد چي وعدي يې کړي وي چي امارت به جوړ وو دهر اسلامي تنظیم خلك پکي شریك ؤ، خو دتنظیمونو مشرانو دخپلو هغو کسانو ملاتړ ونکړ او ملاتړ خو پریږده وروسته دتنظیمونو مشرانو داخبره کوله چي داخلك ځمونږ دتنظیمونو څخه تللي دي.

په اوسني دولت کي دا ټول تنظیمونه شریك دي تاسي ئې هم وینی مونږ د اسلامي امارت منسوبین یقین او باور لرو چه زمونږ او ددولتي اداري ترمنځ هیڅ توپیر او فرق نشته ځکه چه د څوارلس کلن في سبیل الله جهاد څخه د ټولو مقصد او هدف دشرك اوبدعت خلاف او د الله تعالي د اسمان دمنزل دین او نظام چه عبارت د قرآن او سنت څخه دي په ځمکه باندي حاکمول او جاري کول دي.

● حاجي نذیرالله د اسلامي امارت د نظامي چارو د ریاست مالي امیر:

د اسلامي امارت اهداف او مقاصد د قرآن اوسنت دعوت، دحدودالله مکمل تنفیذ، داسلامي تعلیم روزنه، په منطقه کي عام امنیت، دقاتلانو، داکوانو او ظالمانو مخ نیوي او دټولو مسلمانانو دابرو، عزت، ناموس اومال مکمل حفاظت ؤ.

د اسلامي امارت ارتباطاط د اسلامي دولت سره اصولاً جاري دي چه زمونږ مخکي او وروستني هدف دادي چي اسلامي دولت به د اسلامي امارت په قواعدو او اهدافو عمل کوي که په نورو ساحو کي تطبیق نه وي نو د اسلامي امارت په ټولو حدوداتو کي د اسلامي امارت اهداف تطبیق وي نو د اول حل لپاره د افغانستان اسلامي دولت مونږ سره د امارت اسلامي د اهدافو او مقاصدو تطبیق په صورت کي په څو مواردو کي لیکلي او لاسلیك کړي دي ددي څخه وروسته اسلامي امارت ټول پرسونل د خپلو مسولیتونو څخه صرف نظر او د دولتی اداري دجوړیدو په خاطر پوره اخلاص وکړ او په یو منظم شکل ورسره د اداري په جوړولو کي سهیم شوؤ چه یوه باشریعته او باامنیته اداره جوړه شي داهم د امارت اسلامي ددولت اسلامي سره پوره اخلاص ؤ. ددولت ټولو شرعي اوامرو ته احترام لرو او دقرآن اوسنت خلاف اوامرو ته منفي ځواب دژوند په هره لحظه کي ورکولاي شو.

مفکر اسلام امام الجهاد شهیدشیخ جمیل الرحمن رحمه الله د زرینو ویناگانو څخه یوه روښانه او ځلانده وینا داهم ده چه کله افغانستان کي اسلامي حکومت جوړ او تشکیل شي، نو د کونړونو اسلامي امارت به د اسلامي دولت یو جز وي نو په دي خاطر چه د شهید توصیه هم عملي شي او دوهم داچه د اسلامي دولت په ټولو ادارو کي د توحید د عقیدي دعوت ورکول ټولو مسلمانانوته زمونږ فرض دي نو په دغه خاطر مونږ لازم وگڼل او مونږ ددولت سره مو د یوځاي کیدو اعلان وکړ.

د افغانستان د اسلامي دولت سره د اسلامي امارت یوځاي

کیدل اقتصادي او مالي کمزوري نه ده بلکه د اسلامي دولت په چوړولو کي د تنظیمونو نه علاوه دهر یو مجاهد او هر یو فرد وجیبه ده چي څوارلس کاله ستونزو او تکالیفو څخه وروسته خپل کور پخپله جوړکړي. د شهید شیخ جمیل الرحمن رحمه الله له ویناگانو څخه داهم یوه وینا ده چي"د تنظیم پرستي څخه د شریك بوي ولاړیږي" نو اسلامي امارت په دي خاطر حکومت سره پیوستون اعلان کړ چه کونړ د افغانستان یو ولایت دي او په افغانستان کي اسلامي حکومت اعلان شوي دي، دي ته ضرورت نشته چي په هرسمت کي دي خانگړي حکومتونه وي.

الحمدلله جماعة الدعوت داسي مجاهدین لري چي هغه په لوږه گیډه اوبي پیسو د جماعة الدعوت خدمت کوي او د جماعة اهداف او مقاصد به مخ په وړاندي بیائي، ډیر وخت وشو چه د امارت اسلامي بي معاشه په خپلو قطعاتو کي ناست او د امارت اسلامي د اهدافو د تطبیق هڅي کوي.

د پیوستون د وجوهاتو په باب باید ووایو چي اسلامي امارت د افغانستان په یو ولایت کي اعلان شوي و، دي ته ضرورت نشته چي په هر یو ولایت کي دي جداگانه حکومتي نظام وي ولي که چیري مرکزي حکومت د اسلامي امارت اهدافو ته منفي ځواب ویلي واي نو هیڅکله به پیوستون نه واي راغلي.

د جماعة الدعوت د برنامو په هکله زما نظردادي چه جماعة الدعوت الي القرآن والسنت یو داسي نوم دي چي ددي اهداف په مونږ فرض دي چه هغه دقرآن او سنت دعوت دي.

که هغه دعوت لساني وي او که ځاني وي. مونږ به خپل ټول امکانات که مالي وي که ځانی وي یعني د سر په قرباني به دجماعة الدعوت برنامي بدرگه کوؤ. د کونړونو اسلامي امارت په خپل دور کي بي شماره شرعي قصاصونه او رجمونه کړیدي. ټولي نړي ته ښکاره ده چي قاتلان ئي اعدام او قطاع طریق ئي په خپل عمل رسولي دي.

د ډیرو پیړیو نه راپدیخوا داسي شرعي نظام په یو اسلامي دولت کي هم ندي تیر شوي. د شریعت د نفاذ نه علاوه دعمومي امنیت په ساتنه کي یي بي ساري قرباني کړیده. بي شماره خارجي مؤسسي جلب کړیدي او دکونړ د ځمکو د اوبوخور لپاره يي ویالي، سرکونه جوړول او ماین پاکي او د مسجدونو جوړونه ئي د مؤسساتو په توسط کړیده. اسلامي امارت په خپل دور کي پرته له کومي مؤسسي څخه په خپل مصرف د بریښنا د تولید فابریکه فعاله کړه چي د ولایت نژدي ساحو ته تری بریښنا ورکړي شویده.

تعصب او مخالفت یوازې د اسلامي

دعوت په ذریعه له منځه تلای شي

مولوي سمیع الله

د افغانستان د جماعة الدعوت الی القرآن والسنت د امیر شیخ سمیع الله «نجیبي» د وینا هغه متن چې د اکتوبر د میاشتې په (۲۰)مه نېټه ئې د پېښور د معهد الشرعي د فارغینو د سندونو د ورکولو په وخت ایراد کړه او مونږ ئې ددعوت مجلې د قدرمنو لوستونکو په خدمت کې وړاندې کوو.

محترمو علماء کرامو، مشرانو،او محصلینو ورونو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

په پاکستان کې ډېر شرعي معاهد او دیني مدارس وجود لري او ټول په خپل خپل ځای د قدر وړ دي، مګر دا شرعي معهد او د محمد بن اسماعیل بخاري (رحمه الله) جامعه پدې برخه کې ډېر ممتاز مقام او حیثیت لري. ددې معهد الشرعي او د محمد ابن اسماعیل بخاري رحمه الله د جامعې د مخلصو او تکړه استادانو د بې شمېره کوششونو او هڅو نتیجه ده چې معهد الشرعي او د محمد ابن اسماعیل جامعه د خپلې اومې(۷) دورې روزل شوي شاګردان فارغوي. ددې دورې نه مخکې چې کوم متفرغین دي دوه ؤ مقامونو ټولنې ته ددعوت د خدمت لپاره وړاندې کړې دي، الحمدلله ددوی د نیکې او موحدې عقیدې او بې سارو کوششونو نتایج ډېر ښه منعکس شویدي او انشاء الله العزیز چې خپل اصلي اسلامي دعوت او مشن یې مخ په وړاندې وړي او وړي یې. او په دې لار کې یې په ځانونو لازم ګڼلې چې زمونږ هدف همدا دعوت الی الله او الی الرسول دی.

محترمو ورونو! ددعوت الی الله او الی السنت مسئله د یو واقعي مسلمان دپاره څه وړه او کوچنۍ مسئله نه ده، بلکې دا د یو مسلمان یوه تر ټولو درنه او عظیم الشانه مسئله او ذمه واري ده. دا دعوت الی الله د ټولو انبیاؤ علیهم السلام مسلك او مسئولیت ؤ او بیا خصوصاً د سید البشر حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم کار او پیشه وه چې الله تعالی ورته پدې باب فرمایلي!« قل هذه سبیلي أدعوا إلی الله علی بصیرة أنا ومن اتبعني وسبحان الله وما أنا من المشرکین» د الله تعالی طرف ته دعوت او بلنه د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم کار، مسلك او وظیفه وه او الله جل جلاله په دې باندې مکلف کړی ؤ چې خلك د الله جل جلاله کتاب او د توحید عقیدې ته وبلي او اتباع السنت ورباندې عملي کړي. د الله تعالی لور ته خلك بلل او دعوت کول په پوهه، دلیل او بیدارۍ باندې کیږي، د الله تعالی لور ته دعوت او بلنه په سختیو، جهالت او زشتۍ باندې نشي تر سره کیدلای، ځکه هر کار د کیدلو لپاره خپل اسباب لري او د الله تعالی لور ته ددعوت د کار اسباب د علم او پوهې په څنګ کې نیك اخلاق او نرمه رویه ده. که له -

دغو اسباپو څخه مو ددعوت او بلنې د کار لپاره استفاده وکړه ممکن په وراندې مو هيڅ خنډ واقع نشي.

د الله تعالی لورته دعوت او بلنه يوازې د حضور نبی کريم صلی الله عليه وسلم د ځان لپاره مسللك او وظيفه نه وه چې هغه صلی الله عليه وسلم له دنيا نه رحلت وکړ او دا سلسله ختم او تمامه شوه، بلکې دا دهغه چا وظيفه او مسلك دی، څوك چې د محمد صلی الله عليه وسلم تابعداری کوی او د پيغمبر په نقش قدم روان وی. تاسی به ددی معهد الشرعی په درسی علومو کی ددعوت او بلنی طريقی زده کړی وی چې دعوت ورکول ځانته اوصول او طريقه لری او په کار ده چې ددعوت د چلولو عمل او تګ لاره د پيغمبر صلی الله عليه وسلم په اقتداء او پيروی کی تر سره شی، الله جل جلاله فرمائی: «لقد كان لكم في رسول الله أسوة حسنه» ستاسی لپاره ښايسته پيروی د پيغمبر صلی الله عليه وسلم په اقتداء کی ده. صحابه کرامو، تابعينو، تبع تابعينو، امامانو او علماؤ دغه طريقه خپله کړی ده چې نن د اسلام دين تر دی حده مونږ او تاسی ته رارسيدلی دی او ددعوت دا سلسله لا روانه او جاری ده. دوی چې په کومه طريقه علم او پوهه زده کړی ده او ددی اداب يې مراعات کړی دی نو د ټولو زده کوونکو او شاګردانو لپاره او بيا خصوصاً د هغو زده کوونکو لپاره چې په دينی مدارسو او ښوونځيو کی زده کړه کوی او د کتاب او سنت په زده کړه بوخت دی او هدف يې دا وی چې خلك كتاب الله او نبوی سنتو ته وبلی، ددوی اخلاق، معامله او روش او سلوك د عامو خلكو په نسبت بايد فرق ولری.

دوی بايد د پيغمبر صلی الله عليه وسلم ټول آداب په ځان کی پيداکړی او په ځان يې عملی او پياده کړی تر څو د علم او پوهی اثرات عامو خلكو ته نمونه شی کله چې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم سنت په ځان عملی او حاکم وګرځول شی طبعاً په عاداتو، اقوالو، کردار او افعالو کی فرق راځی.

سفيان الثوری رحمه الله پدی هکله فرمايی: «که چيری ستا دا وس او توان وی چې سر تدری هم ونه ګروی مګر د پيغمبر صلی الله عليه وسلم يا د هغه د ملګرو په طريقه يې وکړي». حسن بصری رحمه الله فرمايی!" چې يو سړی د علم زده کړه او طلب کوی، د هغه د علم او پوهی اثر د هغه په تخشع او عاجزی کی ليدل کيږی او په خوی او اخلاقو کی يی فرق راځی. په ژبه کی يی فرق راځی او خبری يې د عامو خلكو د خبرو غوندی نه وی او هميشه دا کوشش کوی چې خبری يی بايد دنبوی سنتو سره تطابق ولری، سترګی بايد د شريعت مطابق استعمال شی. د مسلمان طالب العلم په ټولو حواسو کی بايد د نبوی سنتو اثر پروت وی. عاصم ابن عصام رحمه الله وايی چې ما د امام احمد ابن حنبل رحمه الله سره شپه تيره کړه، هغه راته له بيګانه اوبه راوړې او راته يې کيښودې، چې سهر راغی اوبه په خپل حال وی تعجب يی وکړ او حيران شو! چې سبحان الله!!! يو سړی دې علم زده کوی او بيا هغه علم چې هغه د قرآن او حديث وی او د شپی لخوا دی نه پاڅيږی او قيام اليل او تهجد دی نه کوی....!

همدا رنګه ابو القاسم ابن منيع چه د امام احمدابن حنبل رحمه الله سره ډير پاتی شويدی ، له امام احمد ابن حنبل رحمه الله څخه ئی وغوښتل چه ماله په سويد ابن سعيد يو خط راکړه! چه دا يو اهل حديث دی او زه د هغه ملاقات ته ځم. امام احمد ابن حنبل رحمه الله ورته وليکل چه دا يو سړی دی چه حديث ليکی ما ورته وويل چه ما ستا خدمت کړی او تا سره پاتی شوی يم کاشکی داسی دی ليکلی وی چه دا اهل حديث دی. هغه و- فرمايل:

مونږهغه چاته اهل حدیث وایو چه هغه په نبوي حدیثو باندی عمل کوی او د احادیثو په لار روان وی، د هغه اخلاق، عادات، اقوال او اعمال د حدیثو مطابق وی. چه حدیثو لولی او حدیث لیکی، هغه ته مونږ اهل حدیث نه شوی ویلای.

اسماعیل ابن مجید د ابو عثمان نه روایت کوی: څوك چه د پیغمبر علیه السلام سنت په ځان حاکم وګرځوی او ددی مطابق عمل وکړی، دا د حکمت څښتن دی. چا چی هوا، خواهش او نفسانی خیالات په ځان حاکم کړل؛ دا بدعت ته ترغیب دی که تاسو د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د لاری اطاعت وکړ؛ تاسو به هدایت ومومئ او په سمه لار به روان شئ، د پیغمبر صلی الله علیه وسلم اطاعت د هدایت ذریعه ده.

حضرت انس رضی الله عنه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه روایت کوی او وایی: د مؤمن د اخلاقو څخه یوه دا خبره ده چه کله خبری کوي نو نیکی او ښایسته خبری کوی، چه کله ورته حدیث بیانیږی ډیر ښه غوږ ورته نیسی، چه کله د یو مؤمن سره مخامخ کیږی نو په پراخه تندی او خوشحالی ورسره ګوری او چه کله د چا سره وعده کوی په وعده وفا او وعده پوره کوی. دا د مؤمن صفات دی.د معهد الشرعی طالب العلمانو اوشاګردانو ته دا پکار دی چه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په طریقو دا عادات خپل او عملی کړی. لکه څنګه چه دا نن وران او جنګ ځپلی افغنستان د ابادولو او ودانولو لپاره څه مادی مرستو ته ضرورت لري؛ همدا شان د دې سیمی د خلکو د عقیدو ابادول او صحیح کول د توحید نور ته ضرورت لری چه د کتاب الله او سنت الرسول صلی الله علیه وسلم په نور روښانه او منوری شی. ددنیا ابادی ابدی او همیشنی اعتبار نلری، ځکه که نن جوړه وی سبا ورانه وی او که نن ورانه وی بیا یی هم د جوړیدو امکان شته، لیکن اصلی ابادی او عمارت د اسلام ددین ابادی ده. د اسلام د ابادی لپاره د پاکو عقیدو او د نبوی سنتو د عملی کولو ضرورت دی، د دینی علومو د خپریدلو او عامیدلو ضرورت دی چه د علم او پوهی په وجه د مسلمانانو تر منځ وحدت او یو والی راشی، له یو بل سره نزدیکت او قربت پیدا شی او خصوصاً د هغو مسلمانانو او علماء کرامو چه د توحید عقیده ولری. نن چه مونږ ګورو نو اسلامی دعوت ته اشد ضرورت دی، د خلکو سره د کیناستلو او په دی برخه کی خبرو کولو ته ضرورت دی چه د خلکو تر منځ د تعصب او مخالفت جرړې ولټولی شی او له منځه لاړی شی او ددی دعوت په واسطه د خلکو له اذهانو څخه بی ځایه الزامات او مخالفتونه ختمیږی او له منځه ځی.

وروڼو: ستتاسی لپاره دا ډیره نیکبختی او خوشبختی ده چه علم او پوهه مو حاصله کړه او ددینی علم نور او خزانه مو لاس ته را ورله خو ددی سره سره ستاسی په سر یوه بله لویه ذمه واری او مسئولیت ولوید. چه دا د ټول عالم مسئولیت دی او دی عالم ته ددعوت رسولو مسئولیت دی، ددی مسئولیت د تر سره کولو لپاره به تاسی ددعوت د ورکولو مبارزه جاری ساتئ. انشاء الله چه الله تعالی به ستاسی په کارونو کی برکت اچوی ستاسی په دعوت چه دیو کس په عقیده کې د توحید نور ولویږی او هدایت یی نصیب شی، دا ستاسی لپاره د لوی اجر او افتخار خبره ده. حضرت علی رضی الله عنه ته پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم و-فرمایل: چه که ستا په ذریعه یو کس ته هدایت نصیبب شی او په سمه لار برابر شی نو د هغو سرو قیمتی اوښانو څخه به ستا لپاره بهتر وی. نو دا دعوت د ټولو انبیاؤ علیهم السلام مسلك او مشن ؤ. الحمد لله ددی معهد الشرعی څخه سزکال پنځلس شاګردان د هدینی منوری په جامعة الإسلامیة کی قبول شویدی او انشاء الله ستاسی دا کوششونه، هڅی او زده کړه بی ځایه نه ځی او په ټوله نړی به ددی اثر غورځیږی.

حاجي غلام صادق (قاضي اخونزاده) د متحده شورى د انتخاباتو په نتيجه کې د کونړونو د والی په صفت و ټاکل شو.

(افغان اسلامك نيوز ايجنسي) په افغنستان کی داسلامي دولت د قيام نه وروسته د جماعة الدعوة إلى القرآن والسنة مشر تابهٔ د جهادی قومندانانو، دجماعت د اهل رائی افرادو او د کونړونو دسپين زيرو دجماعت د شورئ سره د تفصيل بحث او مناقشي نه وروسته تصميم ونيوهٔ چه د اسلامي امارت شرعي اداره چه څه موده وړاندی په کونړونو کی د شهيد مولوی جميل الرحمن رحمه الله د اسلا. ي نظام د تنفيذ او د جهادی اهدافو د سرته رسولو په منظور تأسيس کړی وه، د اسلامي دولت سره يو ځای کړی، پدي حقله لازم تصاميم و نيول شول، د ټولو جهادی تنظيمونو مشرانو سره د تفاهم نه وروسته چه ټولو ته برابر حقوق ورکړل شول او يوه ٦٤ څلورشپيته کسيزه شورئ جوړه کړی شوه او د کونړونو ولايت إداری چاری ورته وسپارل شوی، دده تر څنگه مولوي صاحب هاشم (حزب اسلامي حکمتيار) غړی د والی دمرستيال په صفت، غلام حبيب (جبهه نجات ملي) د مستوفي په صفت، استاد محمد شريف (اتحاد اسلامي) د تعليم او تربيي د مدير په صفت او حضرت حسين (حزب اسلامي يونس خالص) دامنيت د قوماندان په توگه و ټاکل شو.

همدارنگه د مختلفو جهادی تنظيمونو نمايندگانو ته ددغه ولايت مختلفی چاری سپارل شوی.

شورئ په خپله گډه اعلاميه کی پدی خبره زور راوړ چه جهادی گوندونه بايد جنگ بند کړی. د افغان مسلمان ملت د مشکلاتو په حل کی پوره ترکيز وکړی، داخلي مشکلات د خبرو له لاری حل وفصل او د اسلامي حکومت د استحکام په منظور په گډه هلی ځلی وکړی، نا مطلوب او ملحد عناصر هره ډله د خپل څنگ څخه جدا کړي. او تعهد يی وکړو چه په خيريه کارونو کی به د اسلامي دولت سره پوره ملا- تړ کوی.

الحاج غلام صادق (قاضي اخونزاده) چه د شهيد جميل الرحمن ورارهٔ دی په (١٩٤٩م) کال د کونړونو ولايت دپيچ دری د ننگلام په کلی کی زيږيدلی

خپل ابتدائی تعلیمات ئی په خپل کلی کی سرته رسولی دی او د داؤد له وختوئې په عملي جهاد پیل کړي دی، د کمونستانو دتوری کودتاه نه وروسته هغه د پیاوړیو لمړنیو قوماندانانو د جملي څخه شمیرل کیږي. نوموړی خپل ټول ژوند د الله تعالی د لاری د حقیقی مجاهد په ډول د اسلام په سنگر کي سرته رسولی دی.

قاضي صاحب د ولایت دروند مسؤلیت او خپل معذرت ئی وړاندی کړ او د قبولولو څخه ئې ډه ډه وکړه، لیکن د شورا د زیات اسرار په وجه مجبور شو چه دغه مسؤلیت قبول کړي.

ددعوت مجله او د افغان اسلامي خبری اداری کارکنان په دغه اړوند د زړهٔ له کومی تبریکي تقدیوی او د الله تعالی څخه د نوموړی د زیات بریالتوب دعا کوي او هیله لري چه د پخوا په ډول د اسلامي شریعت په تنفیذ کی کوشش وکړی. او په سیمه کی د پوره امنیت لپاره خپل ټول وسایل روی کار کړي.

داسلامي دولت عکس العمل:

په کابل کی د اسلامي دولت مسؤلینو د نوموړي په انتخاب او د یوي واحدی اداري په جوړیدلو خوښی ښکاره کړي ده اوپه دی لړ کي ئی د هر قسم تعاون یادونه کړی ده. او په فوری ډول ئی مربوطه مراجعو ته د اداری دعملي تنفیذ احکام صادر کړی دي.

د شوریٰ او والی د ټاکل کیدو نه وروسته لومړنی اقدامات:

د کونړونو دعمومي لارو څخه ټول ناجایز پاټکونه ختم کړای شول، د کونړونو ولایت نه د لرگو انتقال په کلکه منع کړی شو، د ځنگلونو د وهلو دمخنیوی پخاطر ئی عاجل تصامیم ونیول او دتجارتي موادو په واردولو نا-جایز ټیکسونه ختم کړی شول.

د چترال د مسافرینو لپاره یی د لیارو د امنیت پخاطر عاجل حفاظتی پوستی ترتیب کړی.

د والی د ټاکل کیدو نه روسته د پاکستان د انصارو ورونو یو وفد د مولانا عبدالرحیم چترالي په مشری چه پکی مولوی صاحب محمد شریف، مولانا عنایت الرحمن او نور مشران شامل وو کنړ ته لاړل او هلته ئی په گډو مسائلو بحث وکړ او یو بل ته ئی د ورورۍ په فضاء کی دمرستي داد ورکړ.

د کونړ «شمله»
شهید شیخ جمیل الرحمن

لعل محمد
«افسوس»

محفل دبې هوشانو کې یو شور ؤ لګیدۀ
د ناز په خنداګانو کې یو سور ؤ لګیدۀ

نری غوندې نسیم ؤ په ویدۀ زړونو راوالوت
أثر یې جادوګر ؤ په هر لور ؤ لګیدۀ

دکبر محفلونه یې په صدق سپین ایره کړل
د راز یوه تماشه وه او یو اور ؤ لګیدۀ

دسپین سهر وزمه وه سردرو کې خپریدله
اواز کلي په کلي کور په کور ؤ لګیدۀ

همدغه یې دنده وه دبل څه قیصه کې نه ؤ
په حق پسې روان ؤ چې یو زور ؤ لګیدۀ

دهر چمن بهار ؤ تیت وپاس یې نظر نۀ ؤ
په دښتو په صحراؤ پسې خور ؤ لګیدۀ

په توره ترږمۍ کې سپیده وه وچاودله
دلبر زیري یې راوړل او یو شور ؤ لګیدۀ

نه ویښه وه نه خوب ؤ څه عجیب غوندې محضر ؤ
دهر درد مند دردونو ته تکور ؤ لګیدۀ

یو نوی پسرلی ؤ دارمان هغې غوټې ته
راتګ ته یې «افسوسه» لږ وخت نور ؤ لګیدۀ

الهي دعوت

حافظ. تایمنی وات کابل

که دعوت الهی دی، نو دعوت دی د قرآن
چی ددین دنیا عزت دي، نو عزت دی د قرآن

عبادت دیوه رب ته، چه مخلوق د خالق بولی
مسلمانه! پری کړه فخر، دا وحدت دی د قرآن

چه خاکی بنده بشریی، لوړ د عرش تر کنگروکړ
بی مانندہ بی مثاله، څه رفعت دی د قرآن

یو ویښته به یی په عمر، نه ضایع نه خیانت شی
چی ساتلی چا په زړه کی، امانت دی د قرآن

که زبور ؤ که تورات ؤ، که انجیل ؤ ټول منسوخ شول
په رسول چه نازل شوی، لوی رحمت دی د قرآن

مؤمنان یی یو تر بله، چی د ورونو په مثال کړل
که څوك وائی اخوت شته، اخوت دی د قرآن

د رب مینه محبت چی، روزی زړهٔ د مسلمان کی
ورته ښه په غور څیر شه، دا نصحت دی د قرآن

په صراط مستقیم به، تر قیامته برابر و ی
رسیدلی چی کوم زړه ته، هدایت دی د قرآن

چی ترڅو دنیا باقی وی، دده حکم به جاری وی
جاویدانه عالیشانه، امارت دی د قرآن

په نظر د محبت به، ټول مخلوق د رب ته گوری
چی ځای شوی په کوم زړه کی، محبت دی د قرآن

له نفاق او دوه رنگیړنه، چی مدام مسلمان ژغوری
چی ئی دغه اصل کیښود، دا قدرت دی د قرآن

د الله په معرفت کی، بل دلیل د لاری نشته
تفرقه چی پکی نشته، جماعت دی د قرآن

ای انسانه! داچی نن پری، د اتوم سره کړی لوبی
سر د ټولو معارفو، معرفت دی د قرآن

سوله امن کی ژوندون او، یو پربل صله درحم
دغه پوهه دستا نه ده، دا حکمت دی د قرآن

د نړی د زعمیاتو، زعامت وی یو څوورځی
ای مسلمه! پروت په دی کی، مصلحت دی د قرآن

چی د حق په حقه لاره، همیشه ثابت قدم یم
ثابت شوی ما «حافظ» ته، حقیقت دی د قرآن

انتظـــــــار

بادشاه وزیر «ارماني»

ظالمان ډیر ظلم کوي د مظلوم وار نهٔ راځـــــي
تل به د بل اختیار کوو زمونږ اختیار نهٔ راځي

هم پسرلي هم شنه ګلونه مي وطن کي شته دی
خو د خزان په سلطنت کي پری بهار نهٔ راځي

چی د "عمر" غوندی په توره شپه کوځوکي ګرځي
دداسي عدل او انصاف څه اقتدار نهٔ راځــي

شپي تیروو په شته کورونو کي په خوشو دښتو
په بیدیا ناست یو بي اسری هیڅوک غمخوار نهٔ راځي

د سپین سبا زیری چی راوړی مونږ ته توره شپه کي
هسی عبث انتظار کړو داسی ریبار نهٔ راځـــي

تنکي تنکي ګلونه رژی د سوکړو له لاسه
چی ئي اوبه د زړهٔ په وینو کړي مالیار نهٔ راځي

چي به ئي سهر نه تر بیګا د رب ثنأ ویله
اوس می په غوږو د هغو مرغو چغار نهٔ راځــي

ګلونه وشو د ظلمونو حد معلوم نه شولو
د ظالم خوله باندی توبه استغفار نهٔ راځـــي

په کور دننه دښمنی ده جوړه شوې راته
په خـپلو وینو تویـولو تاله عـار نهٔ راځـــي

چی زه سلګی د ځنکدن په پردي در کي وکـــړم
«ارماني» ورور مي دي د خاورو په امبار نهٔ راځي

د تګاب جنګ

حکومتی او

ژمنی تــدابیر

جمال کوټوال- په کابل کی
ددعوت د مجلی خبریال

د بده شامته د هغی ورځی نه چی روس پلوی او ګوډاګی رژیم په ګونډو شوی او د ځوارلس کلن سپیڅلی جهاد په نتیجه کی په کابل کی د اسلامی دولت د فتحی جنډه پورته شوی ده څه دپاسه یونیم کال وشو خو جنګونه او اختلافونه د یوی روځی نه بلی ته پړسیزی او مجاهد د مجاهد په ګریوان کی لاسونه اچولی دی او د چا خبره یو بل ته په کمین کی ناست دی. مونږ دا منو چه د جهادی ځواکونو تر مینځ شیطانت او لمسونی شته دی او اکثره جهادی مشران په بیانونو کی د دښمنانو لمسوونکو فعالیتونوته ګوته نیسی، خو ددفع کولو توان ورسره ځکه نشته دی چی مشران یوپربل اعتماد نلری او یو بل ته نیژدی کیدل ځان ته د خطر زګنال بولی.

دا چی په تیر یو نیم کال (بین المجاهدین) جنګ کی د افغان ملت څومره ککړی، خاوری شوی دی، څومره فزیکی او مالی خساره رسیدلی ده داتوم ددې عصر کمپیوټر ئی د محاسبی نه عاجز دی، خو هغه څه چی د سختی اندیښنی وړدی هغه د جنګونو دوام دی او د بیا رغونی په ځای د ورانولو کیسه ده چی د کورنیو او بهرنیو جرګه مارو او منځګړو کردار پکی بنیادی نتیجه‌ورنه کړه او دا وخت په پس منظر کی داسی څه نهٔ ښکاری چی د سراسری سولی د تأمین خطاب ورته وشی او د اسلامی دولت د خصوصیاتو او خصلت سره سم د هر چا سر او مال پکی محفوظ شی.

هسی خو هم په اکثره ولایاتو او علاقو کی د ټوپك نظام چلیږی او هر څوك چی ډیره وسله او ډیر سړی لری همغه د سیمی واکمن او حاکم دی او د حکومتی انتظامیی تر قلم لاندی د هیڅ ډول ضوابطو تابع نه دی د تیرو سختو جنګونو په لړ کی د سروبی او تګاب جنګونه چی په حقیقت کی ددولت او حکومت تر مینځ جنګ ورته ویلی نشی اوس په یو داسی پړاؤ کی دی چی نه پکی کورنی منځګړی ورداخلیږی او نه ورته د بهرنیو ګاونډیو او اسلامی هیوادونو مصلحین زړهٔ ښه کوی دا ځکه چی دلته اکثره اوربندونه مات شوی دی او پخی لوظنامی تالا ترغی شویدی. د

مجلې سیاسي مبصر په ډېر احتیاط سره دا پوښتنه کوي چې د هیواد د دوه سوه او پنځلس ولسوالیو د جملې څخه چې ټولې د حکومت په قلم او کنترول کې دي او اصولاً باید د ټولو ولسوالیو اوسیدونکو ته د ژوندانه سهولتونه برابر کړي او د سوله ایز چاپېریال بندوبست ئې وکړي ایا د تعجب خبره نه ده چې د سروبي او تګاب د ولسوالیو په نیولو سره ئې جنګونو ته ګونډې وهلې دي او د یو بل د ماتې او فتحې خبرې کوي.

که چېرې اسلامي دولت ټینګ وي او اسلامي حکومت برقراره وي نو بیا د ولسوالیو د نیولو سوال نه مطرح کېږي او لازمه ده چې دولت او حکومت جنګونه بند کړي او د جهادي اهدافو په نظر کې نیولو سره د دنیا د سیالانو سره د هغې کاروان ملګرتیا وشي چې د ننۍ عصر د هر وګړي او خاص طور د هر جنګ ځپلي افغان د ضمیر اواز دي.

تر کومه ځایه چې د سیاسي نظام په سلسله کې د خلکو او حکومت تعلق دی کابل ته د ژمي استازي رارسیدلي دي، خو د معمول سره سم هغه ژمني تدابیر چې هر کال خلکو سره د مرستې او لاس نیوي په خاطر کېږي همدا اوس د جنګ او تباهۍ خبرې کېږي او داسې اوازې هم خپرې دي که چېرې د تګاب د بې مفهومه جنګ د بندولو غم ونه خوړل شي نو کابل ښار ته ئې د سرایت امکانات هم پیش بیني کیدی شي.

د مجلې د مبصر د تفصیلاتو مطابق دا وخت برسیره پردې چې د ژمنیو تدابیرو په لړ کې حکومت هیڅ مؤثر اقدامات نه دي کړي د جنګونو د دوام په وجه افغاني پیسې د بهرنیو اسعارو په مقابل کې خپل ارزښت د لاسه ورکوي او خبره د (وخوره او مه مره) نازك پړاؤ ته رسیدلې ده. په تېره بیا د تنخواه والا ملازمان په سخته تنګسه کې ژوند تیروي او اقتصادي حالت دومره بحراني شوی دی چې اکثره نوي ملازمان نۀ غواړي په مقرره شوي تنخواه باندې کار وکړي او هغه چې لزوماً په ملازمت مقرریږي د رسمي وظیفو نه فرار کوي او په نورو مثمرو وظیفو بوختیږي.

ددعوت مجله چې د یوه جهادي تنظیم نشراتي ارګان دی د جهادي تنظیمونو تر مینځ موجوده جنګونه په شدت سره محکوموي او د جنګ ددواړو غاړو نه جداً غواړي چې د جهادي هویت د خرابولو نه دې نور لاس واخلي او خپل ټول دینامیزم دې د اسلامي حکومت د جوړولو دپاره وقف کړي، داسې حکومت چې د قرآن او حدیث تر حاکمیت لاندې په ټولو ناجایزو اعمالو باندې د بطلان کرښه راښکودلې شي. هم د قرآن او سنت تنفیذ ددې تعین کوي چه ټولې پرګنې او قومیتونه او ډلې تر یو بیرغ لاندې راجمع کړي او روان مشکلات ختم کړي. ددغه ورځې په هیله!

تير پسي

د دين مفهوم

ګليم الله «متين»

ځلورمه برخه

دين د قانون په مفهوم:

قرآن کريم دا خبره ډيره ښه څرګنده کړي ده چه دين د ټول بشريت لپاره يوجامع قانون دي او زموږ پيغمبر صلي الله عليه وسلم ته څو څو ځايه قرآن دا هدايت او ارشاد فرمايلي دي. چه ته د کوم نوي مذهب او نوي دين موسس او بنسټ ايښودونکي نه ئي او نه په تيرو شوو پخوانو انبياؤ عليهم السلام کي کوم پيغمبر د کوم نو ي دين موسس ؤ او کوم ځانګړي مذهب ئي درلود بلکه د الله تعالي له خوا فقط يو دين راليږلي شوي او هغه د ټول نوع بشر لپاره د قانون په حيث نافذ شوي دي او ټول پيغمبران د همدغي واحد او يو دين د خدمت او تعميم او خپرولو او نافذولو لپاره راليږل شوي وو او هماغه دين دي چي پخوانو پيغمبرانو عليهم السلام وړاندي کړي ؤ، محمد صلي الله عليه وسلم ئي هم وړاندي کوي، خپروي يي او نافذوي ئي. په دي لړ کي لومړي د نوح عليه السلام نوم اخستل شوي چه تر لوي توفان وروسته د بشر د پاتي نسل لومړي پيغمبر ؤه او بيا د تر ټولو وروستي پيغمبر محمد صلي الله عليه وسلم ته اشاره شوي ده او بيا د حضرت ابراهيم عليه السلام نوم اخستل شوي چه عربو خپل پيشوا منلي ؤ او په پاي کي د حضرت موسي عليه السلام او عيسي عليه السلام يادونه شوي ده چه يهودو او عيسايانو خپل مذهبونه ورته منسوب کړي دي.

لکه چه فرمائي:" شرع لکم من الدين ماوصي به نوحا والذين او حينا اليك وما وصينا به ابراهيم وموسي و عيسي ان اقيموالدين ولا تتفرقوا فيه ط (۱۳: الشوري)

يعني." الله تعالي مقرر کړو يا وټاکو، ستاسي لپاره ددين (قانون) يوه لاره چه د هغه د اقامت او ټينګښت لپاره ئي نوح ته امر کړي وو او هغه څه چه مو تاته وحي کړيده او هغه چه مو ددغه قانون د ټينګښت لپاره ابراهيم او موسي او عيسي ته امر کړي ؤه. په دي مضمون چه دغه دين (قانون) ټينګ کړي (اوئي دروئي) او پکي ځان ځاني مه راپيدا کوي."

له دي خبري نه دا مقصد نه ؤه چه ګوندي همدغو پنځو تنو پغمبرانو ته ددين هدايت شوي ؤه او بس، بلکه مقصد دادي چه په نړي کي چه څومره پيغمبران راغلي دي، ټولو همدغه يو دين د ځان سره راوړي ؤه او د نمونې او مثال په توګه ددغو پنځو تنو سترو پيغمبرانو نومونه واخستل شول چه په نړي کي ئي ستر اسماني شريعتونه راوړي وو.

بيا په بل ځاي کي زيات تفصيل ورکوي او فرمائي:" انا اوحينا اليك کما او حينا الي نوح والنبين من بعده و اوحينا الي ابراهيم و اسمعيل و

اسحق ویعقوب ولاسباط وعیسٰی و ایوب و یونس وهٰرون و سلیمٰن و اتینا داود زبورا o و رسولا قد قصصنهم علیك من قبل و رسولا لم نقصصهم علیك و کلم الله موسی تکلیما o (النساء: ۱۶۳-۱۶۴)

یعني." بیشکه چه مونږ تاته داسي وحي درولیږله لکه چه درلیږلي مو وه نوح ته او تر هغه وروسته نورو پیغمبرانو ته او لکه چه درلیږلي مو وه ابراهیم ته، اسماعیل ته، اسحاق ته، یعقوب ته او د هغه اولاد ته او عیسي ته، ایوب ته ، یونس ته، هارون ته او سلیمان ته او داؤد ته مو زبور ورکړي ؤه. او څنګه چه مو وحي درلیږلي وه هغو پیغمبرانو ته چه پخوا مو تاته د هغوي کیسي کړیدي او د ځینو په هکله مو تاته کیسي نه دي کړي او الله تعالي د موسي سره خبري هم وکړي."

څنګه چه لومړي ذکر شوي آیت ددین په هکله رڼا اچوي نو ضروري ده چه پوره غور پري وکړو.

فرمائي چه :" شرع لکم " وئي تاکه ستاسي لپاره " د شرع لغوي معني لاره جوړول دي. اواصطلاحاً تري مفهوم قانون جوړول، قاعده تاکل او مقررات نافذول دي. په عربي ژبه کي ددي اصطلاحي معني په لحاظ د «تشریع» معني د قانون جوړولو (LEGISLATION)د شرع او"شریعت" معني قانون(Law) "شارع" معني قانون وضع کوُنکي (LAW GIVER) ګڼل کیږي. دا الهي تشریع یعني د الله تعالي قانون جوړول په اصل کي د هغو اصولي حقائقو فطرتي او طبیعي نتیجه ده چه د "الشوری د. سورة په ۸، ۹او ۱۰ آیاتونو کي بیان شوي دي او وائي چه الله تعالي د کائناتو د هر شي مالك دي او هغه د انسان حقیقي ولي او واکمن دي او د انسانانو تر مینځ چه په کوم کار کي اختلاف راشي نو حکم او فیصله کول د هغه کار دي. نو څنګه چه په اصولي توګه مالك، ولي او واکمن الله تعالي دي نو هرومرو حق لري چه د انسان لپاره قانون او مقررات ترتیب کړي او ددغه حق له مخي هغه د انسانانو لپاره د قانون جوړولو خپله دنده تر سره کړه.

بیا فرمائي." من الدین" یعني ددین یو دول، یا یو دول دین. امام شاه ولي الله محدث دهلوي رحمة الله علیه ددغه لغت ترجمه په "آئین" کړي ده، یعني اساسي قانون. دهغه په عقیده، الله تعالي چه کومه تشریع کړي ده او قانون ئي جوړ کړي دي دغه قانون، اساسي قانون دي چه په انګریزي ژبه کي ورته (CONSTITUTION) وائي. د سورة الزمر په دوهم او دریم آیتونو کي فرمائي چه :" انا آنزلنا الیك الکتب باالحق فاعبد الله مخلصیا له الدین* الا لله الدین الخالص والذین اتخذوا من دونه اولیاء ما نعبدهم الا یقربونا الي الله زلفي ط ان الله لا یحکم بینهم في ماهم فیه یختلفون*ط ان الله لایهدي من هو کذاب کفار* (الزمر۲-۳)

یعني.« (اي محمد صلي الله علیه وسلم) دا کتاب مونږ تاته په حق نازل کړي دي، نو تاسي یوازي او یوازي د الله تعالي بندګي وکړئ. دین یواځي د هماغه لپاره خالص کړي، پام کوي چه دین، خالص د الله تعالي حق دي، او هغه کسان چه بي له الله تعالي ئي د ځان لپاره نور واکمنان غوره کړي دي (او د خپل دغه کار

توجیه داسي کوي چه). مونږ ددوي عبادت او بندګي بوازي په دي غرض کوو چه الله تعالی ته مو (نږدې کوي) رسوي. الله به په یقیني توګه ددوي تر مینځ تولي هغه خبري فیصله کړي چه دوي پکي اختلاف کوي. الله تعالی هغه چاته لار ښوونه نه کوي چه درواغجن او له حق نه منکر وي."

دا ډیر مهم آیتونه دي چه دین ته د بلني اصل هدف او مقصد بیانوي، ځکه نوباید یو څه رڼا پري واچوله شي او په مفهوم باندي ئي د پوهیدلو یو څه کوشش وکړو.

په دغه مضمون کي دوه مهمي خبري دي چه په هغو باندي له پوهیدلو پرته د مضمون مفهوم ته رسیدل ګران دي. یوه خبره دا چه دغه د الله تعالی د بندګي مطالبه او غوښتنه ده او دوهمه خبره پکي داده چه غوښتنه دداسي بندګي او عبادت ده چه دین د الله تعالی دپاره خالص کړي شي.

«عبد» یو عبارت دي چه د عبادت څخه راوځي. او په عربي ژبه کي د «ازاد» په مقابل کي د «غلام» او مملوك لپاره تري کار اخستل کیږي.

ددغي معني له لحاظه په «عبادت» کي دوه مفهومونه راپیداشویدي یو بندګي او عبادت کول. لکه چه د عربي په مشهوراو مستند قاموس «لسان العرب» کي وائي: " عبد الله، تألّهٗ لهٗ والتعبد، التنسك یعني الله تعالی اله ګڼل، ورته بندګي کول او قرباني کول.

دوهم مفهوم دا چه په عاجزي سره اطاعت کول او په خپله خوښه او خپله غوښتنه فرمانبرداري کول، لکه چه په «لسان العرب» کي وائي: العبادة، الطاعة و معني العبادة في الغة الطاعة مع الخضوع. وکل من دان لملك فهم عابد له(و قومهما لنا عابدون) والعابد، الخاضع لربه المستسلم، المنقاد لا مره. عبدالطاغوت، اطاعه یعني الشیطان فیما سول له واغواه. ایاك نعبد، اي نطیع الطاعة التي یخضع معها، اعبد وربکم، اطیعوا ربکم.

یعني: په لسان العرب کي وائي: العبادة، الطاعة، عبادة طاعة ته وائي اوطاعة په لغت کي په عاجزي سره عبادة کولو ته وائي (وقومهما لنا عابدون) عابد، عاجزي کوونکي اود اوامرو غاړه اېښودونکي ته وائي.

عبد الطاغوت، یعني د طاغوت (شیطان) اطاعت کوونکي. (ایاك نعبد) یعني مونږ اطاعت کوو هغه اطاعت چه عاجزي ورسره ملګري وي. (اعبدوا ربکم) په عاجزي سره اطاعت کوي د رب ستاسو.

نو دقامو س ددغو تشریحاتو سره سم غو ښتنه بوازي دالله تعالی د عبادت او بند ګي نه ده بلکه، دهغه حکم ته بي له ځنده اطا عت کول او دهغه دشرعي قانون پخپله خوښه او خوښي پیروي کُول او په سرسترګود هغه "امر" او "نهي"، ته غاړه ایښودل هم دي.

د «دین» عبارت په عربي ژبه کي څو مفهومونه لري. چه یو ئي غلبه، قدرت اخستل، مالکانه اود واکمني تصرف کول،سیاست اوفرمانروائي یا واکمني کول او په نورو باندي فیصله نافذول دي.

(نور بیا)

د پي-ايل-او او اسرائيلو معاهده

لعل محمد «افسوس»

د فلسطين مسلمانان له نيمي پيړی را ـ هيسی په يو اوږد ا وطويل کشمکش کی ښکيل دی او ډول ډول دردونکی قربانۍ يی وګاللې. د P.L.O سازمان چه يو سيکولر سازمان دی او رهبري يی د ياسر عرفات په غاړه ده، د ۱۹۹۳ميلادی کال د سپتمبر مياشتی په (۱۳ مه) نيټه يی د اسرائيلو سره يوه معاهده د -Dec laration of Prince-ples په نوم چه د واشنګټن په سپينه ماڼۍ (White Hous) کی تياره شوی وه، لاسليك کړه. ددی معاهدی قانونی حيثيت ټولو عربي هيوادونو او يو زيات شمير نورو اسلامي هيوادونوهم په رسميت و پيژاند، په معاهدی کی د غزی د تراډی او د جريکو په شمول ځينی نوری فلسطينی مقبوضه سيمی د PLO په اختيار کی په محدود انداز کی ورکړل شوی، په معاهده کی دا خبره هم شامله ده چه ددی نوی فلسطينی رياست دفاعي او خارجي چاری به د پخوا په شان د اسرائيلو په لاس کی وی، همدا رنګه د غزی په تراړه کی آباد (۱۹) او په جريکو کی آباد (۱۱) يهودی کلی به هم د پخوا په شان د اسرائيلو په قبضه او انصرام کی وی او د حفاظت مسئوليت به يی د اسرائيلو په غاړه وی او د بيت المقدس د آزادۍ مسأله به تر دری کلونو پوری نه چيړل کيږی، ددی خبري مقصد دا نهٔ دی چه وروسته له دريو کالو به بيت المقدس فلسطينيانو ته حواله کيږی، بلکي د اسرائيلو د بهرنيو چارو وزير"شمعون پيرز"دا ويلی دی چه دا ښار به د هميشه لپاره د اسرئيلو دار الحکومت (پايتخت) وی.

ياسر عرفات اسرائيلو ددی ډول عناياتو په بدل کی دا ښه صفا او په ډاګه ويلی دی چه مونږبه په دغو مذکوره سيمو کی کومی چه اسرائيل يی فلسطينيانو ته پريږدی، عکس العمل ختم کړو.

که د فلسطين تاريخي پس منظر ته وکتل شي، دی نتيجي ته رسيږو چه هيڅکله هم د فلسطين په مقدسه خاوره د يو يهودی رياست په وجود کی راتلو او جوړيدو امکان نه ليدل کيدهٔ، که چيري انګريزی صهونستانو د ياسر عرفات او يا ددي غوندی نوری سيکولرستي ځيری په لاس کی نه واي لوبولی او دداسی کارونو لپاره يی تری د استعمال الي نه وای جوړی کړی، ځکه اسرائيلو د مټ په زور، جبر،دوکي او يا کوم بل چل د فلسطين مقدسه خاوره نه ده نيولی او نه يی د يو اسلامي خاوری د نيولو کوم جرئت کولی شو مګر د هميشه لپاره انګريزی صهونيانو د تيری لپاره داسی لاری چاری اختيار کړی چه تبر ته يي لاستی د هم هغه ونی څخه جوړ کړی؛ کومه چه وهل کيږي.

د اسرائيلو د پاڅو ن نه (۳۰)ديرش کاله وړاندی چه د فلسطين خاوره په قبضه کی واخلی، دا منصوبه تياره

شوي وه. اوس د برطانيي حکومت (۱۹۱۸) ميلادي کال په فلسطين کې د يهودي رياست د قايمولو ځمه او پخواني يهودي مطالبه تسليموي. همدارنګه ملګرو ملتونو UNO په ۱۹٤۸ ميلادي کال کې د فلسطين د قضيې د حل لپاره د فلسطين د خاورې د تقسيمولو فارموله وړاندې کړې وه، مګر هغه فارموله د ټولو عربي هيوادونو په شمول د نړۍ ټولو اسلامي هيوادونو مسترده کړه او د اسرائيلو تيرې يې د فلسطين پرخاوره نا جايز و ګڼله او د ملګرو ملتونو دا رنګه تجويز يې د اسرائيلو ملګرتيا وګڼله، خو بيا هم اسرائيلو د ملګرو ملتونو د تجويز په وړاندې کولو عمل وکړ او په زوراو زياتي سره يې د فلسطين پر خاوره يرغل وکړ او د فلسطين زياتې سيمې، د غزې تراډه، د شام ځينې سيمې، د ګولان غرونه او د اردن د سيند لويديزې غاړې هم پخپل تسلط کې راوستلې، ددي ظالمانه او وحشيانه چکړو له امله د پنځه سوه زره نه تر اوه سوه زره پورې فلسطيني مسلمانان مهاجر او در په در شو.

ياسر عرفات د تيرو شل ـ دوه ويشت کالو را هيسې دا چغې او نارې وهلې چه «موږ به اسرائيل نيست او نابود کوو، د فلسطين يو يو اينچ خاوره به په خپل اختيار کې اخلو او د اسرائيلو د خاتمې سره سره به امريکا هم ختمېږي.......!" ددې نارو او چغو وجه وه چه يا سر عرفات فلسطينيانو د خپل لار ښود او رهبر په صفت و ـ مانهٔ، او همدا راز عربي او نورو اسلامي ممالکو هغه د يو قايد په حيث و پيژاندهٔ.

نن هغه ياسر عرفات د اسرائيلو سره داسې معاهدې کوي چې هغه د فلسطين د اسلامي خاورې تقدس او د خاورې تماميت ته د نه قايليدو د معنې مترادفه ده. نن نړۍ د ياسرعرفات دارنګې معاهدې کولو ته د حيرت په سترګو ګورې، هغه ياسر عرفات چه د «اهني مرد ميدان» خطاب ورته کيدهٔ ، نن د شګو ديوال ثابت شو. دا د اسرائيلو لپاره فتحه ګڼل کيږي چه د ياسر عرفات غوندې انسان ضمير يې خپل کړ او خپلې ټولې غوښتنې يې پرې عملي او تر لاسه کړې. د اسرائيلو سره د ياسر عرفات د لاـ سليک کړې معاهدې ځينې مهمې نقطې په لاندې ډول دي:

۱- ۳٦٥ کيلو متره مربع مساحت احاطه شوې فلسطيني سيمه چه اوه سوه او اويا زره (۷۷۰۰۰۰) نفوس يې د غزې په تراډه او شل زره (۲۰۰۰۰) نفوس يې د جريکو په سيمه کې ژوند کوي؛ فلسطينيانو ته د اسرائيلو له خوا حواله کيږي، دا عمل به په څلورو مياشتو کې صورت نيسې او فلسطينيان به ددې سيمې د چارو د سمبالولو انتظام کوي. ددې سيمې خارجي حفاظت به د اسرائيلو لخوا کيږي. د اسرائيلو د بهرنيو چارو د وزارت معين يو ـ سي بيلن په دې باب ويلي چه داخلي پوليس به د فلسطين خپل مسئوليت وي، همدا رنګه د ژوند د نورو چارو لکه د روغتيا، ښوونې او روزنې، سياحت او داسې نورو چارو سمبالښت د فلسطينيانو خپل مسئوليت دی او ددې موقتي خپلواکۍ او خود مختارۍ موده به له پنځه کالو څخه زياته نهٔ وي.

۲- ددې موقتي خود مختارۍ او خپلواکۍ د معاهدې له لاسليک کولو څخه نهه مياشتې وروسته به په سيمه کې انتخابات صورت نيسي.

۳- د موقتي خود مختارۍ او

خپلواکي ددوؤ کالوله تيريدو څخه وروسته به د فلسطيني رياست (حيثيت) حتمي فيصله کيږي.

٤- د غزي او جريکو له سيمو څخه د اسرائيلي فوځ انخلا به د معاهدې له لاسليك څخه دوه مياشتي وروسته او له نورو سيمو څخه به د وضع شوي پروګرام لاندې په تدريج سره پيل کيږي.

٥- د غزيي په تراړه او لويديزو غاړو د اوسيدونکو اسرائيلو حفاظت به د فلسطينيانو په غاړه وي.

٦- د فلسطين د خارجي خطراتو دفاع به اسرائيل او د سيمي دداخلي اسرائيلو ددفاع مسئولين به فلسطينيان وي.

٧- د يروشلم دحيثيت په باب فيصله به ددې معاهدې تر وروستو مراحلو پورې ځنډيږي.

٨- دغزيي د تراړې او د لويديزو غاړو تر منځ به يوه امنيتي سيمه قائميږي، تر څو فلسطيني مهاجرين بيرته ستانهٔ شي، د ستنيدو انتظام به يې د فلسطين، اسرائيل، مصر او اُردن په غاړه وي.

د غزي تراړه چه اوه سوه پنځوس زره فلسطينيانو او (٥٤٠٠) پنځه زره او غلور سوه يهوديان پکې ميشتهٔ دي، د «حماس» تنظيم له منځ ته راتګ نه مخکي پرې د plo مکمل کنټرول ؤ، مګر د ١٩٨٧ميلادي کال را پديخوا پرې دحماس چه نن فلسطينيانو ته يو مقبول تنظيم دی سلطه لري. د حماس تنظيم د رهبرانو وينا ده چه حماس تنظيم پدې سيمه کې زيږيدلی او منځته راغلي دی. د جريکو وادی چه د بلدياتي حد بندئ له مخی تقريباً (٢٠) کيلو متره مربع مساحت لري او په اُردن کی واقع ده، پدې سيمه کی تقريباً (١٦) شپاړس زره مسلمانان ميشتهٔ دي، دا سيمه په ١٩٦٧ميلادي کال کې اسرائيلو په خپله قبضه کی راوستي ده.

د ياسر عرفات ددې معاهدې د مفرداتو په لوستلو سره دې نتيجې ته رسيږو چه د فلسطين مسئله پدې طريقه د حل وړ امکان نلري، بلکي د PLO نام نهاد قيادت اسرائيلو ته تسليم او د خپلواکې وسله يې په ځمکه کيښوده.

ياسر عرفات چه د فلسطين د مسلمان امت سره کومه غداري او د فلسطينيانو د سرنوشت کومه سودا وکړه، د مصر پخواني جمهور رئيس انور سادات هم په ١٩٧٨ ميلادی کال کی د سينا د ريګستاني صحراء سودا د کيمپ ديود-Camp da) (vid په معاهده کی کړې وه، مګر د څه وخت له تيريدو وروسته يې د نتيجې خوند وڅاکهٔ، نوموړی به هم دداسې معاهدې کولو انجام وګوري، ځکه د بدو نتيجه هميشه بده وي. ددې معاهدې په کولو ياسر عرفات ته هم د فلسطين د نورو جهادی تنظيمونو لخوا د مرګ خبر ورکړی شوی دی.

د نيمې پيړۍ د اوږد او طويل کمشکش، بې کوري او در په درۍ او بې شميره قربانيو نتيجه يوازې دا شوه چه فلسطينيان دې بلدياتي خود مختاری ولري؟ د فلسطين د زرګونو مسلمانانو د وينو بهيدل اخر د څه لپاره وو؟ بيت المقدس چه د مسلمانانو لمړنئ قبله او خوږ نبي حضرت محمد صلی الله عليه وسلم تری د مسجد اقصی څخه معراج ته تشريف وړی دی، د فلسطين بيرغ د ړپولو منصوبه څه شوه او کوم غرض له منځه يوړه؟ د يا سر عرفات د هغو چغو او نارو مقصد څه ؤ؟

د سپتمبر د (١٣) نيټي د معاهدی

د فلسطين د ویش نوی نقشه

تر شادسیکو لرست یاسرعرفات څېره ډېره ښه څرګندېدي شی. د یو غربي خبریال رسل واټسن وینا ده چه نن هغه یاسر عرفات د اسرائیلو د صدر اعظم اسحاق رابن سره چا چی خپله خواني د عربي مسلمانانو د ککرو په پرې کولو مصرف کړی ده او د یو بی رحم قاتل شهرت لري، د عربي مسلمانانو بچی او اولادونه یی شهیدان کړی دی، په بی ګناه ښځو او بوډاګانو یی د بمونو باران ورولی دی او د ځوانانو په ژوند یی د جنګ همیشني سیوري مسلط کړی دي؛ د دوستي لاس ورکوي.

د یاسر عرفات دا عمل په اصل کی د حماس تنظیم مخالفت کول دی، د حماس تنظیم ورځ په ورځ په فلسطیني مسلمانانو کی مقبولیت او محبوبیت پیدا کوی. یاسرعات یوازي د حماس تنظیم مخالف نهٔ، بلکي په افغانستان کي ځوارلس کاله د روسي کمونستانو د وحشیانه او ظالمانه یرغل په مقابل کي افغانانو قرباني ورکړی، د روسي یرغلګرو له لاسه یی د یونیم ملیون څخه د زیاتو شهیدانو وینی بهیدلی وزغمل، لنډه دا چه هر ډول ناروا ظلمونه په افغانانو وشول، مګر یاسر عرفات پدی دومره موده کی او ددي دومره ناروا مظالمو سره سره پدي اوږد دور کی د یوی اسلامي همدردۍ له مخی لا څه چه د یوی انساني همدردۍ په بناء یی هم د روسانو په مقابل کی خپل عکس العمل ونه ښود او چپ او غلي پاتی شو. د غربي تجزیه نګارانو دا خیال دی چه په راتلونکو دوه دری کالو کی به حماس د فلسطین د آزادۍ په تحریکونو تول کنترول حاصل کړی. حماس نن سبا په فلسطین کي یو ژوندی قوت دی، د یاسر عرفات هغه معاهده یی مسترد کړی او ویلی یی دی چه د فلسطین ستونزه پدی ډول معاهدو نه بلکي د جهاد په ذریعه حل کیدي شی، د فلسطین مسلمانانو یوازي ددی څو سیمو د آزادۍ لپاره جهاد نه دی کړی، بلکي ددی اصل هدف دبیت المقدس آزادي ده او دا د هر مسلمان اولی او اخرني نصب العین دي، په فلسطین کی د اسرائیلو نا جایزه اوسیدنه ترک کول د مسئلي اصلي حل دي، د فلسطین آزادی په لبرل او سیکولر نظریو نه بلکي د فی سبیل الله د جهاد په واسطه لاس ته راځي، ځکه جهاد کول د آزادي ضامن دي.

د حماس ددي ډول جهادي نظرئي پرمختګ له امله امریکا او اسرائیلو ته لویه پریشاني پیدا شویده. د یو یهودي مشر وینا ده چه د حماس او اسرائیلو تر منځ جنګ د ژوند او مرګ جنګ دي. اسرائیلو د حماس د خطر له امله چه د حماس د جهادي څپو څخه یی محسوسوی؛ د PLO د سیکولرست قیادت یی د حماس په مقابل کی استعمال کړ، اسرائیلو خپل ځان بچ او د حماس مقابلی ته یی PLO و ګومارهٔ. دا معاهده په منځني ختیځ کی د امریکا او اروپا له پاره په هغه خطر فتحه او بري دی چه دوي یی د صحیح اسلامي جهاد څخه محسوسوی، د خطر لدی زنګ څخه د ځان د دفاع پخاطر مسلمانان پخپلو منځو کی په جنګ او جګړو اخته کوی او له نندارو څخه یی خوند اخلي. د سپتمبر ددیارلسمي نیټي د معاهدي څخه د امریکا اصلي او نچوړ مقصد دادي چه فلسطینیان په داخلي جګړو اخته او په منځني ختیځ کی د خپل طویل باد شاهت او حکمراني لپاره زمینه مساعده کړی.

د نبوي ملغلرو اميل

دقنوت دعاء:

حضرت حسن رضي الله عنه فرمائي چي ماته رسول الله صلي الله عليه وسلم دا دعاء را زده كړه، ترڅو ئي زه د تراويح په وخت كي ولولم!

ترجمه: اي الله ! ماته سمه لاره راوښايه، داسي لاره لكه چي خپلو نيكو بندگانو ته دي وربښولي ده.

اوماته خير پيښ كړي داسي خير لكه چي نورو ته دي پيښ كړي،له ماسره د هغو خلكو په څير مرسته وكړه كوم چي تا ورسره مرسته كړي ده. زما په حال او رزق كي بركت واچوه، له هغه مصيبت نه مي وساته دكوم چي تا پريكړه كړيده ددي لپاره چي ته پخپله فيصله كوي اوستا د فيصلي او پريكړي په خلاف هيڅوك پريكړه نشي كولاي، بيله شكه هغه څوك كوم چي ته ورسره محبت كوي نه خواريږي او هغه څوك چي ته ورسره دښمني كوي دعزت خاوندان كيدلاي نشي.

اي زمونږ ربه! تهٔ دبركت خاوند ئي او لوي ئي مونږ ټول له تا څخه بخښنه غواړو او ستا لور ته رجوع كوو ، دالله تعالي په رسول دي رحمت وي.

(مجمع الزوايد ص- ٢٣٩ جـ اول ، مشكوة)

له وترونه وروسته دعاء:

دا بايد دري ځله وويل شي، دوه ځله اهسته او دريم ځلي په لوړ اواز سره!" پاك دي لوي الله ډير پاك دي." بيا دي دا وويل شي، "لوي الله تعالي زمونږ، ملائكو او جبرائيل عليهم السلام رب دي".

قنوت نازله:

اي الله! ما اوټولو مسلمانانو ته بخښنه وكړي، ټول مسلمانان سري او ښځي او دهغو په زړونو كي محبت پيداكړه! هغوي اصلاح كړي او له هغوي سره مرسته وكړي دهغوي ددښمنانو په خلاف. يا الله په كافرانو دي لعنت وي چي ستا له لاري نه خلك منع كوي او ستا او ستا پيغمبرانو ته دروغجن وائي او همدارنگه ستا له دوستانو سره جنگ كوي.يا الله ! دهغوي په مينځ كي بي اتفاقي پيداكړه او دهغوي قدمونه سره ووهه او په هغو خلكو باندي عذاب نازل كړه كوم چي د مجرمانو له ډلي نه نهٔ اوړي.

اذان:

ترجمه: الله ډير لوي دي. الله ډير لوي دي. الله ډير لوي دي. الله ډيرلوي دي. زه شاهدي وركوم چي له الله تعالي نه پرته بل څوك د عبادت وړ نهٔ دي. زه شاهدي وركوم چي بي له الله تعالي نه بل څوك د عبادت وړ نهٔ دي. زه شاهدي وركوم چي محمد صلي الله عليه وسلم د الله رسول دي.

محمد صلي الله عليه وسلم د الله رسول دي. راچابك شيء لمانځه ته. راچابك شيء لمانځه ته. راچابك شيء د كاميابيء لورته. راچابك شيء د كاميابيء لورته. الله ډير لوي دي. الله ډير لوي دي. له الله تعالي نه پرته بل هيڅوك د عبادت وړ ندي.

دلته داخبره د غور وړ ده چي د سهار په آذان كي د "الصلوة خيرٌ من النوم" كلمه زياته شويده چي معني ئي "لمونځ له خوب نه ښهٔ دي"، همدارنگه د اذان په وخت كي د هغه په ځواب

کي باید داسي وویل شي. لاحول ولاقوة اِلّا باالله.

یعني د الله تعالي له توفیق نه پرته زه نیکي نشم کولای اوله بدي څخه ځان نشم ساتلای. (مشکوة)

له آذان نه وروسته دعاګاني:

له اذان نه وروسته درود شریف لوستل او بیا لاندي دعاګاني لوستل د شفاعت موجب ګرځي.

اي الله! زمونږدعا قبوله کړي (دلمونځ دعاء) او رسول صلي الله علیه وسلم ته مقام وسیله(وسیله دجنت د یوي درجي نوم دي) او فضیلت وروبخښي کوم چي تا ورسره وعده کړیده، زه شاهدي ورکوم چي له الله نه پرته بل څوك د عبادت وړ ندي، هغه یودي، هیڅ شریك او ساري نلري اوزه شاهدي ورکوم چي محمد صلي الله علیه وسلم دهغه بنده او رسول دي، زه دالله تعالي په اولوهیت، درسول صلي الله علیه وسلم په رسالت او د اسلام په دین باندي راضي یم.

دماښام اذان:

رسول صلي الله علیه وسلم حضرت ام سلمه رضي الله عنه ته وَفرمایل چي د ماښام آذان په وخت کي دا دعا لوله!

اي الله ! ورځ لاړه او شپه راغله او ستا لوري ته د رابلونکي اواز وشو نوما وبخښه! (مشکوة باب فضل الاذان فصل اول)

اقامت:

الله ډیرلوي دي. زه شاهدي کوم چي بیله الله تعالي نه بل څوك د عبادت وړندي. زه شاهدي کوم چي محمد صلي الله علیه وسلم د الله رسول دي.

راچابك شيء لمانځه ته. راچابك شيء دکامیابيء لورته. بیله شکه جمع ودریده. بیله شکه جمع ودریده.

الله ډیرلوي دي. الله ډیرلوي دي. له الله نه پرته بل څوك د عبادت وړندي.

د اقامت ځواب:

داقامت په ځواب کي باید داسي وویل شي چي الله دي دتل لپاره قائم او دائم وساتي.

د سهار له سنتو نه وروسته دعاګاني:

په صحیحین او نورو کتابونو کي حضرت عباس رضي الله عنه یو اوزد حدیث له رسول الله صلي الله علیه وسلم نه رانقل کړیدي چي په هغه کي راغلي دي ! کله چي به رسول الله صلي الله علیه وسلم د سهار لمانځه ته روان شو نو دغه دعا به ئي وویله!

اي الله! زما زړهٔ نوراني کړي، زما سترګي نوراني کړې، زما غوږونه نوراني کړي، زماښي خواته نور زما کیڼي خواته نور، شاته مي نور، په ما له پاسه نور، لاندي نور، مخ ته نور، شاته نور، مانورکړي، زماڼه نورکړي، زما اعصاب نوراني کړي، غوښه مي نوراني کړي، وینه مي نوراني کړي، ویښتان مي نوراني کړي، وجود مي نوراني کړي، نفس مي نوراني کړي، او ډیر نور راوبخښه، اي الله مانوراني کړي.

دویمه دعاء:

اي الله ! اي د جبرائیل، مکائیل، اسرافیل، اود محمد صلي الله علیه وسلم ربه! ستا له اوره پناه غواړم. (مشکوة - مجمع الزواید ص ١٠٤ ج ١٠)

د جمعي په ورځ دریمه دعاء:

حضرت انس رضي الله عنه له رسول الله صلي الله علیه وسلم نه روایت کوي چي د جمعي په ورځ د سهار له لمانځه نه مخکي دا دعاء ولولي‌ء!

زه له الله تعالي نه بخښنه غواړم له هغه پرته بل څوك دعبادت وړندي. هغه د تل لپاره ژوندي او قائم دي او زمادي الله تعالي ته توبه وي. (کتاب الاذکار ص ٤٠)

«نوربیا»

په اسد اباد کې د محمدیه لیسې د فارغینو په مناسبت راپورتاژ

دکنړونو د انقلابي ولایت په مرکزد اسدآباد د محمدیه لیسي په تالار کی د ۱۹۹۳میلادی کال د نومبر د میاشتي په نولسمه نیټه د شنبې په ورځ د تنظیم طلبه سلفیه د اهتمام لاندي یوه درنده غونډه وشوه.

غونډه د محمدیه لیسی د فارغینو د سندونو د ورکولو په مناسبت جوړه شوي وه. غونډه د سهر له نهو بجو څخه پیل او د ورځی تر یوی بجي پی دوام درلود.دغه پرتمینه غونډه د کلام الله مجید د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل او د تنظیم طلبه سلفیه امیر غني الله "مسلم" په افتتاحي کلماتو پیل شوه، غني الله مسلم د لیسی ټول شاګردان او خصوصاً فارغ شوي زده کوونکي خپل اسلامي مسئولیتونو ته متوجه کړل، د مسلم فارغینو ته پدی خبره زور ورکړ چه خپل هر ډول کوششونه د اسلام د سر فرازی لپاره صرف کړی او همدارنګه د افغانستان د مقدس جهاد د باني شهید شیخ جمیل الرحمن رحمه الله د هغه نقش قدم چه د اسلام د سرفرازی لپاره یی پیل کړی ؤ؛ تلل وکړی.

وروسته بیا د جماعة الدعوة د شوری غړی مولوی ګلاجان د خپلی وینا په ترځ کی وویل: چه دا اسلامي دعوت یوازی د کنړ ولایت په حدودو کی نه بلکي د ټول افغانستان او حتی ټولی نړی ته رسول د اسلام ددین دداسی ځوانانو وظیفه ده چه د اسلام وړانګی د نړی ګوټ ګوټ ته ورسیږی او د نړی مظلوم مسلمان ملتونه د اسلام د امن ناك نظام په غیږ کی د آرام ساه واخلی.

همدارنګه مولوی تاج محمد د خپلی وینا په اورولو کي دی ټکی ته اشاره وکړه چه د شهید شیخ جمیل الرحمن رحمه الله فرمودات چه د قرآن او سنت په رڼا کی ئی کړی دی، زمونږ لپاره نه هیریدونکی نصیحتونه دی، هغه به همیشه ځوانانو ته د الله تعالی ددی حکم ترغیب ورکاؤ چه جهاد یو نه ختمیدونکی فریضه ده او په یو حدیث شریف کی هم ددي خبری ترغیب دی چه جهاد به د قیامت تر ورځی پوری جاری وی. نوموړی زیاته کړه چه د افغانستان د مجاهد ملت جهاد ؤ چه د شرق زیر ځواك ئی ټوټی ټوټی او تس و نس کړ. او د نړی ویده مسلمانان ئی د ازادی او خپلواك ژوند په امید د جهاد په زیرو راویښ کړل او د کشمیر، بوسنیاهرزګوینا او صومالي د زمکو او ورشو ګانو څخه د جهاد څپی را اوچتی شوی او د کامیابي او فتحي په لور هره ورځ نوی نوی قدمونه پورته کوي او دبر زر ده چه د غرب کبر جن ځواك به هم یوه ورځ د خپل ټوټی ټوټی کیدلو عملی نقشه وګوری.

وروسته بیا مولوی غلام ګل د محمدیه لیسی په اړوند د غونډی حاضرینو ته معلومات ورکړل او وئی ویل : چه محمدیه لیسه پدی سختو اقتصادی حالاتو کی اوس هم د څه د پاسه پنځه سوه (۵۰۰)زده کونکي روزي چه له دي جملی څخه ئی یو څه تعداد په نهاری ډول او یو زیات تعداد ئی لیلیه دی.

شیخ عبدالسلام صاحب د قرآن پاك د څو آخری سورتونو هغه وروستي

ترجمه حاضرینو ته وړاندی کړه چه د غونډی منتظیمینو دده لپاره د موضوع په ډول پرېښې وه، شیخ عبدالسلام صاحب د کونړ د آزادی او اسلامي خاوری ته په راتګ خوښی څرګنده کړه او وویل چه امام الجهاد شیخ جمیل الرحمن رحمه الله د جهاد پیل ددی خاوری څخه کړی ؤ.

چي بیا وروسته ټول افغانستان ته خپور شو، شهید شیخ ددي ولایت د ازادي وروسته د اسلامي امارت تر عنوان لاندي په دي سیمه کي اسلامي شریعت تطبیق کړ. ځینو د وخت خود غرضو ددي اسلامي امارت مخالفت وکړ او له ډیرو هلو ځلو وروسته هم کامیاب نه شول، اسلامي شریعت او اسلامي حکومت چي د شهید شیخ ښوازیني ارمان ؤ، پخپل ژوند یي د افغانستان پدي ازاده سیمه کي ولید او د همدي شرعي قانون د رایجولو په جرم یي د شهادت جام ته لبیك ووي.

شیخ عبدالسلام صاحب د شهید شیخ د ژوند په باب رڼا واچوله او دده ملګرو ته یي د هغه د شرعي ارمانونو د تر سره کولو تلقین وکړ.

د غونډي په جریان کي د کنړ ولایت نوي منتخب والي حاجي غلام صادق د غونډي برخه والو ته وینا وکړه او ټولو جهادي قومندانانو، علماء کرامو، قومي مشرانو او مجاهدو ځوانانو ته ئی غږ وکړ چي خپل هر ډول قوت ددي سیمي د خلکو د اتحاد او اتفاق لپاره په کار واچوي«، تر څو ددي جنګ ځپلي خاوري مظلوم او غریب مسلمانان د ارام او سوکالي په فضاء کي ژوند وکړي، دا د افغانستان د نورو ولایاتو خلکو ته ښکاره کړی چه د کونړ مسلمان ولس چه تر ټولو د مخه ئي د جهاد شروع کولو او ددښمن ګولیو ته ئي خپله سینه ډال کوله، نتیجه دا وه چه الله تعالی ورته د ټولو ولایاتو څخه وړاندی د آزادی فتحه اوکامیابی نصیب کړه او دا لوی برم او افتخار مو نصیب شو.

همدا شان اوس همدا مجاهد ولس دا کولای شی او عاجز ندی چه تر ټولو ولایاتو نه وړاندی په خپل سوله ایز ژوند او د وطن په نوی تعمیر پیل وکړی او یو ځل بیا دا افتخار وګټی.

محترم والی صاحب زیاته کړه چه د سلفیت مسلك د یو مخصوص مسلك نوم ندی بلکه په ټول قرآن او سنت باندی د عمل کولو نوم دی او ددی لپاره به هر ډول قوت صرفو، ددی په قرآن او سنت باندی مبنی عقیدی به ښوازی د کونړ په خاوره نه بلکه د ټول افغانستان او ټولی نړی لپاره به انشاء الله چه زمونږ او ستاسی برحق کوششونه جاری وی او ددی دعوت لپاره به هر ډول قرباني ورکوو.

د افغانستان د جماعة الدعوة امیر شیخ سمیع الله «نجیبی» د غونډی د اختتامی وینا په ترځ کی وویل: چه ځینی خلك داسی فکر کوی او وائی چه د جماعة الدعوة تنظیم ختم شو لیکن څرنګه چه د جماعة الدعوة له نوم څخه ظاهریږی، جماعة الدعوة د ختمیدو تنظیم ندی او دا به تر هغه چلیږی تر څو دنیا ودانه وی ددی تنظیم ښوازینی هدف دقرآن او حدیث په رڼا کی اسلام ته دعوت دی او ددی دعوت لپاره به کار کوی، که څه ناڅه تنظیم د اقتصادی بحران سره مخ دی نو دا ددی معنی نلری چه تنظیم ختم شو.

دا جماعت به د خپلو هر ډول مالی او ځانی قربانیو په بدل کی ودان او ژوندی ساتو.

دافغانستان د اسلامي دولت په اړوند شیخ سمیع الله زیاته کړه چه د اسلامي دولت سره زمونږ مرسته او همکاری تر هغی ده چه دولت د قرآن او سنت په لیکو برابر روان وي او مونږ به هیڅکله ددولت ددی لیکو څخه د انحراف په صورت کی د هر ډول دولت او حکومت ملګرتیا ونکړو. او همیشه مونږ ددولت مقاماتو ته د امر بالمعروف او نهي عن المنکر مشوره ورکړی ده الحمد لله په کابل کی د جماعة الدعوة نماینده ګی وجود لری او د قرآن او سنت مقلد دعوتګر ځوانان پکی د اسلامي دعوت لپاره خپل مسئولیتونه انجاموی چه د ټول افغانستان ګوټ ګوټ ته ئی زرینې وړانګی په رسیدو دي.

له خپلی وینا وروسته د اسد آباد دمحمدیه لیسی فارغو متعلمینو ته شیخ سمیع الله د فراغت سندونه ورکړل او غونډه پاي ته ورسیده.

د ليکونو بهير

له لاهور څخه زمونږ يوي محترمي خور چه خپل نوم «ج- ت» ليکي، خپل تاثرات د کونړونو ولايت د والي په نوم داسي څرگندوي:

څوکاله وړاندي چی په افغانستان کي د کفر او الحاد په مقابل کي جهاد روان ؤ، په دي جهاد کي زما ورور او د هغه نورو مسلمانو ملگرو گډون کړي ؤ، دهغوي دا ارزو وه چه په افغانستان کي اسلامي حکومت قايم شي. ځکه داجهاد يوازي داسلامي نظام د تنفيذ لپاره دي او اقتدار تري مطرح نهٔ دي، دلته به د قرآن او سنت قانون منځته راځي او دا هيواد به د اسلامي نړۍ دمظلومو مسلمانانو لپاره پناه گاه وي. مگر زماد وروراو د هغه ځو ملگرو ژوند ددوي سره وفا ونهٔ کړه او د شهادت جامونه يي نوش کړل. اوس هغه وخت راغلي دي، چه کمونستان په افغانستان کي له قدرت څخه غورځيدلي اوختم شوي دي، اسلامي حکومت جوړ او اسلامي تحريك په قدرت کي دي. مونږ اوس دي ته منتظر يو چی کله به مونږته دا آواز کيږي چی په دغه هيواد کي باقي پاتي ژوند د اسلام د سيوري لاندي تيرکړو او د اسلامي نظام له خوندونو څخه گټه واخلو، مونږ له شپاړسو کالو راهيسي دداسي اسلامي نظام په انتظار يو او مسلمانانو د دي نظام لپاره قربانۍ ورکړي دي، کله به زمونږ او زما د شهيد ورور اود هغه د سنگر د سور کفنو ملگرو ارمانونه پوره کيږي..........؟!

کله چي د فتحي وروسته د کنړونو په ولايت کي اسلامي امارت جوړ شو، زمونږ تسلي وشوه اود اميدونو غوټۍ مو مسکۍ شوي او دا دعابه مو کوله چه په ټول افغانستان کي دغه رنگ اسلامي نظام قايم شي! دا اسلامي نظام به کله راځي............؟!

مونږ يو پاك اسلامي نظام ته سترگي په لار يو!!!

والســـــلام

ددعوت او جهاد د پوهنتون د اصول الدين له پوهنځي څخه زمونږ یو محصل ورور سعاد الله «المحمدی» لیکي:

د اسلام د نیکمرغه او سپېڅلی دعوت پلندویانو، د حق او عزت غږ رسوونکو، د اسلام د ځلانده لمر پلوشو او روښانه څرېکو، د توحید او جهاد د مجلې مثقفو او بهادرو لیکوالانو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

له هر څه د مخه خپلی نیکی هیلی او زرینی ارزوګاني تاسي محترمو ته تقدیموم!

ورونو ! د کنړ د پاکي او اسلامي خاوری، د جهاد د لومړنی مرکز او د کمونیزم د ستری هدیری په اړوند دغه لاندی خاطره لرم . هیله ده چه نشر ته یی وسپارئ.

د کنړ ولایت له سردرو څخه د جهاد پیل کیدل، بیا د ټولو ولایاتو څخه لومړی د کنړ فتحه کیدل او هلته د اسلامي امارت قیام، د امنیت تأمین، د حدود الله او د الهي مقدسو احکامو تنفیذ، د خلکو د ننګ، پت، عزت او ناموس ساتنی ټولو نړیوالو ته په ډاګه او روښانه کړه چی د غیرتی او اتلو سلفي مجاهدینو څخه خوبی نه څوك د پاڅونونو او غورځنګونو په میدان کی ګټلی شی او نه تری څوك د خلافت، سیاست او امارت په میدان کی بری وړلای شي.

والســـلام

* * *

ددرګئ د رحمانیه دار العلوم څخه زمونږ ګران ورور کفایت الله «مؤمن دوست» دا لیك راستولی دی او داسی لیکی:

ددعوت مجلی مدیر او نورو عقیدوی ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

له مسنونه سلام وروسته ستاسو د صحت او کامیابی، د توحید او سنت د سلفي عقیدی د پرمختګ او ددعوت مجلی دلا زیاتی ښکلا لپاره رب العزت ته لاس په زارئ یم!

دشهید شیخ جمیل الرحمن رحمه الله له شهادت وروسته دعوت مجله مونږ ته په وخت نهٔ رسیږی او ددی مجلی په نه لیدلو او نه کتلو ډیر پریشانه یو، هیله ده چه زمونږ پریشانی به په نظر کی ونیسئ او ددعوت دمجلي په راستولو به مو مستفید کړئ. زمونږ دغه لاندی وړاندیزونه که لازم ګڼئ غور وریاندی وکړئ.

۱- د شهید شیخ جمیل الرحمن رحمه الله خطبات باید په هره گڼه کی نشر شی.
۲- د لعل محمد «افسوس» اشعار باید په هره گڼه کی نشر شي.
زه خپل لیك په دی الفاظو پای ته رسوم چی:

ارمان ارمان تیره ساعته
بیا به را نشي کۀ ملنگ در پسی شمه
«په ډیر درناوی»

* * *

د باړې د مولانا انوار الحق صاحب له مدرسي څخه زمونږ یو طالب العلم ورور یحیٰ ځان ننگرهاری لیکی:

محترم ددعوت مجلی مدیر او نورو کار کوونکو ورونو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

ددعوت مجله مو مطالعه کړه او له لوستلو څخه یی ډیر مستفید شو او په کتنه یی زمونږ زړونه ښه او سترگی مو خوږی شوی. دعوت مجلي د افغانستان د جهاد په دوران کی اصلي او گټوری کارنامی سرته رسولی دی چه هغه په صحیح معنی د اسلامي دعوت نشرول او خپرول دی.

والسلام

* * *

دباجوړ ایجنسۍ د ډمه ډولی د اول نمبر کیمپ څخه زمونږ یو ډیر محترم ورور شهاب الدین لیکي:

ددعوت مجلی ډیرو محترمو او قدرمنو کار کوونکو!

د زړۀ له کومی تاودۀ او د مینی او خلوص ډك سلامونه می قبول کړیء! د الله تعالی په دربار کی لاس په دعا یم چه الله تعالی مو د سلفي پاکی عقیدی په نشر او اشاعت کی د نړۍ پر مخ کامیاب لره!

عزتمندو: ددعوت مجلي هره گڼه په ډیر غور او فکر سره لولم او په لوستولو یی بی حده خوشحالی محسوسوم او ویاړم چه په ننی عصر کی ددی بی شمیره مشکلاتو او ستونزو سره سره داسی څوك هم شته چی د توحید د عقیدی په نشر کی خپلی قلمي او علمی قرباني ورکوی.

څرنگه چه داسلامي افغانستان تاریخ له ډیرو حساسو مراحلو څخه تیریږی، باید همیشه دې ټکي ته متوجه یاست چه د راتلونکی لپاره د جماعة الدعوة تنظیم دنوم او نښان او هم د الله تعالی په وړاندی

ددعوت او تبلیغ ددروند مسؤلیت دځواب اسباب په نظر کی و نیسئ او په ډیر موحد جرئت او ایمانداري سره که هغه هر څوك چه وی، بی رویه او بی ریا ورته د هغوي مغرضی او ذاتي خامئ په گوته کړی. تر څو د الله تعالی ددي ځمکی په سر جماعة الدعوة د خپل پاك منشور په بنکلا عملی بنکلی او هم د الله تعالی په وړاندی سرخ رویه او کامران ثابت شی.

ورونو! زما دا تجویز باید په نظر کي ونیسیء چه جماعة الدعوة یو عقیدوي تنظیم دی او دعوت مجله ددی تنظیم نشراتی ارگان دی، په کار ده چه د موجوده حکومت او هم د مخالف لوري بی طرفه او حقیقت مندانه څېړونی وکړئ، هم به دعوت مجله د مطبوعاتی قانون اعلیٰ معیار خپل کړی او هم به د افغانستان مسلمان ملت د موجوده بنکیلو ځواکونو چه روزانه د بې شمیره بی گناه مسلمانانو ويني تویوی، اصلی منافقت په گوته کړی او د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وجیبه به تر سره کړی.

«په درنښت»

* * *

ددعوت مجلی ډیرو خوږو او قدرمنو لوستونکو!

ستاسی له طرفه د رالیږل شوو سلامونو په بدل کی تاسو ټولو ته وعلیکم والسلام وایو!

او د نیکو هیلو او احساساتو مو ډیر تشکر او مننه کوو، الله تعالی دی وکړی چه همدغسی زمونږ سره خپلی قلمی رابطی او همکاریانی جاری وساتئ.

قدرمنو لوستونکو ! ستاسی نیکي خاطری مو دقلم په ژبه ددعوت مجلی د کاغذ په څېړ کي د احساس او غور لرونکو خاوندانو ته د قضاوت لپاره واستولی، پدی ارزو چه د افغانستان د مؤمن او کړېدلی ملت د نیکو ارزوگانو او د لکونو سور کفنو شهیدانو د آرمانونو د سباؤن زیری شی.

ورونو! د غرض خاوندان د ړندو په څیروی، خپل غرض ويني او ټوله دنیا نه وینی، که تاسو غواړیء چه ددعوت او تبلیغ پدی لاره کی شریك شیء، مونږه ته خپلی حقیقی خاطری راولیږیء چه مونږ یی د امر بالمعروف اونهي عن المنکر په وړانگو کي د نصیحت او تنقید په شکل دغو د غرض ړندو ته نشر کړو. مونږ ستاسی ددغو لیکونو چه د مجاهدی او مبارزی په اړوند وی؛ منتظر یو.

والسلام

ددعوت مجلی د اداری لخوا

ارشاد نبوی

بسم الله الرحمن الرحيم

«ماحق الزوجة أحدنا عليه؟ حقهن أن تطعمها إذا طعمت و تكسوها إذا اكتسيت و لا تضرب الوجه و لاتقبر و تهبر إلا في البيت»

ترجمه: حکیم بن معاویة رضي الله عنه وائي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ځخه می پوښتنه وکړه: چه په خاوند باندي دمیرمن څو حقونه وي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ددغو حقوق دا چه ډوډئ ورته ورکړئ کله چه د ډوډئ ضرورت وي او جامي به ورته ورکوئ کله چه د جامو ضرورت وی او پر مخ ئی مه وهيء او بد ناوړه الفاظو ئی مه سپکوئ او له ځانه ئی مه جدا کوئ مگر په کور کي. (احمد - ابوداؤد - نسائی)

شهيد شيخ جميل الرحمن رحمه الله چي كله اسلامي امارت تأسيساؤ نو هغه پدي پو هيده چي اسلامي تحريك او د اسلامي خلافت احيأبه دي د داسي كړاؤنو او داور د بتهيو سره لاس په گريوان كړي،ليكن ددي ستونزو او مشكلاتو سره سره هغه ديو مصمم عزم خاوند ؤ او دا تولي ستونزي يي دخپل فولادي عزم په لرلو سره حل وفصل كولي. زمونږ په ياد دي چي شهيد شيخ ته په يو مجلس كي وويل شول چي دا اداره فوراً محوه كړي. شهيد ورته په ځواب كي وويل: « دا اداره د الله تعالي په حكم جوړه شويده او د الله تعالي په حكم به محوه كيږي، نه ئي په تأسيس كي دچانه دكته اخلو او نه ئي په محوه كيدوكي. يايي د ختميدو شرعي فتوه پيدا كړئ او يايي په زور ختمه كړئ، زمونږبه د الله تعالي په وړاندي مسئوليت رفعه شي او بري به يو او تاسو به مجرمين ثابت شيء..... " »

دكونړ اسلامي امارت د فكر او قلم په هنداره كي